# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤١٦ ګڼه / پنجشنبه ۱۸ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۰۹ حمل ۱٤۰۳ هـ.ش / ۲۸ مارچ ۲۰۲٤ میلادي





اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:۱۳

سحر: ٤:۱۸

## تاکید برایجاد زمینه‌ی بهترکار به معدنکاران زمرد درپنجشیر

ریاست معادن وپترولیم پنجشیر، درپی ایجاد زمینه‌ی بهتر کار به معدنکاران زمرد دراین ولایت است.

درحال حاضر، استخراج معادن زمرد پنجشیر، درچندین نقطه به گونه ی قانونی و ازمجرای وزارت معادن وپترولیم ادامه دارد.

مولوی محمد قاسم امیری رییس معادن وپترولیم پنجشیربه آژانس باخترگفت که تلاش دارند خدماتی را برای معدن کاران زمرد درنظرگیرند.

این خدمات، شامل ایجاد مرکز های صحی برای درمان شان، کارخانه‌ی... ۷مخ

**مولوي عبدالکبیر:**

# اسلامي امارت د ملي ګټو په رڼا کې له ټولو قدرتونو سره مثبتې اړیکې پالي

د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر پرون په کابل کې د ناروې له سفیر پاول کلومن بیکین او مل پلاوي سره کتلي دي. یاده کتنه کې پاول کلومن بیکین د افغانستان او ناروې اوږدو اړیکو ته په نغوتې وویل، دغه هېواد له اسلامي امارت سره ښې او اوږدې اړیکې لري.

سفیر د کندهار وروستی امنیتي پېښه وغندله او په وینا یې افغانستان کې د داعش په ګډون د ټولو وسله والو ډلو ځواک له منځه تللی دی.

سفیر له پاکستان څخه د افغانانو ایستل د اندېښنې وړ وبلل او هیله یې څرګنده کړه چې د کابل او اسلام آباد



په اړیکو کې مثبت بدلونونه راشي.

نوموړي د فساد په مخنیوي، د امنیت په ټېنګښت، د نشه یي توکو په له منځه تلو او یو شمېر نورو برخو کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې او هڅې وستایلې. هغه وویل: دا چې نړۍ لا هم افغانستان پر رسمیت نه دی پېژندلی، د نړۍ او افغان حکومت په زیان دي.

سفیر زیاته کړه، چې په دې برخه کې د پرمختګ لپاره لادېرو هڅو ته اړتیا ده. د ناروې سفیر زیاتوله: دوی په هېڅ ډول د اسلامي امارت د مخالفو ډلو ملاتړ نه کوي. ۷مخ

## احداث جاده‌ی خاکی میان افغانستان و ایران

مقام‌های محلی ولایت نیمروز می‌گویند، قرار است جاده‌ای جدید میان افغانستان و ایران در این ولایت، ساخته شود.

در خبرنامه‌ای که دیروز از سوی حکومت محلی نیمروز نشر شده، این موضوع ابراز شده است. ص۷



## تېرکال د غوري سمنټو د کارخونې عواید ۴۰ سلنه زیات و

د بغلان د غوري سیمنټو فابریکې مسوولین وایي چې ددغې کارخونې سمنټ د تېرو کلونو په پرتله پروسږ ۱٤۰۲ کال کې ٤۰ زیات شوي وو.

دغه کارخونه دمګړی د... ۷مخ



## ناروی متعهد به ارایه‌ی کمک‌های بشردوستانه به افغانستان است



پاول کلومن بکن، سفیر ناروی برای افغانستان در دیدار با قاری دین محمد حنیف، سرپرست وزارت اقتصاد از تعهد کشورش برای تداوم کمک‌های بشردوستانه به افغانستان خبر داده است.

وزارت اقتصاد با نشر خبرنامه‌ای از دیدار آقای بکن و آقای حنیف در مقر این وزارت خبر داده است. ص۷

## وزارت صنعت و تجارت وضعیت تاجران هرات را بررسی نمود

مولوی قدرت الله جمال، معین وزارت صنعت و تجارت، در جریان سفرش به هرات، در دیدار با تاجران هرات وضعیت آنان را بررسی کرد.

به گزارش آژانس باختر؛ در این دیدار تاجران هرات در رابطه به وضعیت تجارت در آن ولایت معلومات دادند و پیشنهاد ها، مشکلات و خواست ... ص۷




## په ټول هېواد کې د تاریخي آثارو د قاچاق مخنیوی شوی

په افغانستان کې د یونسکو سازمان فرهنګي مشر براندن کاسار د اطلاعاتو او کلتور وزارت د هنر او کلتور له مرستیال مولوي عتیق الله عزیزي سره په لیدنه کې ویلي، چې دغه سازمان د بامیانو ستراتژیک پلان د عملي کېدو لپاره د ضهاک، غلغله، کرک او ډېرو نورو تاریخي سیمو سروې پای ته رسولې او د غور جام منار لپاره به هم ډېر ژر د استحکام تر څنګ د مېلمستون او کېبلې برج چارې پیل کړي. ۷مخ




ځینې رسنۍ د زهرو په شان ګرندی اغېز کوي ۲

د فقیرانو پر حال اوښکې تویول ۳

مدیریت بهتر آب خطر خشکسالی را کاهش می‌دهد ۳

افغان اعلانات ٦


## پروان کې نږدې ۳۰۰ پروژې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت خبر ورکړی، چې د پروان ولایت په جبل السراج او سیدخېلو ولسوالیو کې د څه دپاسه ۳٤۰ میلیونه افغانیو په ارزښت ۲۷۱ بېلابېلې پراختیایي پروژې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې.

د دغو پروژو د ګټې اخیستنې په مراسمو کې د کلیو... ۷مخ



سرمقاله

## د نړیوالو فشارونو پر وړاندې اغېزمنه مقابله

څرنګه چې د ملګرو ملتونو اداره، ټول لویدیځ هېوادونه او زیاتره سیمه ییز اتحادونه وخت پر وخت پر افغان حکومت نیوکې لري، فرمایشونه ورکوي او ډېری یې تعامل ته نه راوړاندې کیږي او یا د ځینو ځواکمنو هېوادو له لوري له تعامله ایساریږي، طبیعی ده چې د دې ډول وضعیت دوام خامخا زموږ نظام او خلکو ته یو لړ ستونزې جوړې کړې او زموږ د پرمختګ په لار کې یې ډېر خنډونه هم اچولې دي. البته د اسلامي امارت مسئولین سره له دې چې د قادر خدای په نصرت باوري او په هر ډول سختو حالاتو کې یې پر هماغه ذات توکل او بروسه کړې او له خپلې برحقې داعیې یې هیڅکله تنازل نه دی کړی. خو ددې ترڅنګ موږ بیا هم پردې مکلف یو چې تر خپله وسه هم خدای راکړی عقل او حکمت په کار واچوو او هم له شته اسبابو کار واخلو- بناء پردې له موجوده مشکلاتو سره د مقابلې لپاره خپله زموږ د عقل او تجربو غوښتنه داده چې د اسبابو له جملې تر ټولو اهمه وسیله چې د خپل رعیت ملاتړ او خواخوږي ده، په ښه ډول ځان ته را جلب او همدا خپل ملت په هره ستونزه کې خپل څنګ ته راوبلو- خودا چې په څه ډول د خلکو ملګرتیا او خواخوږي راجلبولی شو، ... ۷مخ

## ۶۵۰ جریبه ځمکه له کوکنارو پاکه شوه

د کورنیو چارو وزارت خبر ورکړی، چې له نشه یي توکو سره د مبارزې پولیسو په ارزګان، ننګرهار، بدخشان او هرات ولایتونو کې ۶۵۰ جریبه ځمکه د کوکنارو له کښت څخه پاکه کړې. ۷مخ



## د میدان وردګو ترافیکو مدیریت ۴۷ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د میدان وردګو ولایت د ترافیکو مدیریت چارواکي وایي چې په تېر یوه کال کې یې ۴۷ میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي. د یاد ولایت امنیې قومندانۍ له لوري په خپره شوې خبر پاڼه کې راغلي چې په تېر ۱٤۰۲ هجري شمسي کال کې ٦۳۰۰ د موټرچلولو جوازسیرونه، ۷٤۰۰ لېسنسونه وېشلي او له دې لارې یې راټول شوي... ۷مخ

# نباید از مهاجران استفاده سیاسی شود

**تبصره**



در حالی که مقام های پاکستانی در نظر دارند، مرحله دیگری از اخراج مهاجران افغان از آن‌کشور را روی دست گیرند، مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا امارت اسلامی گفته است؛ نباید از مهاجران استفاده سیاسی شود.
مبصر آژانس باختر می‌نگارد؛ حکومت پاکستان در نظر دارد که مرحله دوم اخراج مهاجران افغان از آن‌کشور را بعد از نیمه دوم ماه اپریل سال روان میلادی روی دست گیرد.
حکومت موقت پاکستان قبل از این بخشی اعظمی از مهاجران افغان را به دلایل کاذب از آن‌کشور اخراج کرد، یکی از دلایل حکومت موقت پاکستان برای اخراج مهاجران افغان، نگرانی‌های امنیتی بود، نگرانی‌های که به مهاجران افغان ربطی نداشت ونداردد.
مگر حکومت موقت پاکستان به اشاره جنرال های ارتش، خواست که با اخراج دسته جمعی مهاجران افغان، امارت اسلامی در افغانستان را در ابعاد مختلف در تنگنا قرار دهد، در حالی که امارت اسلامی توانست در برابربرنامه مذبوحانه اخراج مهاجران افغان ایستادگی کند و با وجود مشکلات در افغانستان که بیشتر جنبه اقتصادی داشت، از برگشت کنندگان اجباری خوب استقبال شد و با آنان کمک‌های لازم صورت گرفت و برای ادغام دو باره شان با جامعه کارهای زیادی انجام شد.
این در حالی بود که بسیاری کشور ها و نهاد های جهانی از حکومت موقت پاکستان خواسته بودند که روند اخراج مهاجران را متوقف کند، چون این برنامه از جای دیگر طرح شده بود، حکومت موقت پاکستان در برابر تقاضا جامعه ی جهانی عاجز بود و روند اخراج را ادامه داد.
حالا نیز همان اتهام بندی و مشکل تراشی ها است، اتهام و مشکلات به آدرس مهاجران افغان بسته می‌شود که اصلا به آنان ربطی ندارد، مگر حکومت پاکستان برای مرحله دوم اخراج مهاجران افغان برنامه ریزی کرده که بدون شک با این کار، همان اهداف اولی که تکرار می‌شود، به «چالش کشیدن امارت اسلامی و در تنگنا قرار دادن این نظام» حلقاتی درپاکستان اند که دید شان در برابر افغانستان، همچنان اغراض آمیز، سلطه گرایانه و امتیاز طلبانه است در حالی که امارت اسلامی در روابط کشور های، باور به روابط متوازن دارد که در آن تعریفی از امتیار خواهی و امتیاز طلبی نباشد و اصلا امارت اسلامی امتیازدهی نیست، بل بررعایت منافع دو طرفه و روابط متوازن تاکید دارد.
در چنین یک وضعیت است که بحث اخراج مهاجران پیشکش و مسئله مهاجران سیاسی ساخته می‌شود و سیاسی دنبال می‌گردد، در حالی که مسئله مهاجران تعریف عاطفی و ابعاد حقوقی دارد که هیچگاه با سیاست و امنیت گره خورده نمی‌تواند.
مولوی عبدالکبیر، معاون سیاسی ریاست الوزرا در دیدار اخیر خود با معاون امور بشری یوناما و رییس اداره بشری و انکشافی سازمان ملل متحد به همین نکته تماس گرفته است و تاکید داشته است که نباید از مهاجران استفاده سیاسی صورت گیرد. از دید او «اخراج مهاجران افغان از پاکستان در شرایط کنونی، روند کمک رسانی و وضعیت بشری را آسیب می‌رساند.»
تنها مقام.های امارت اسلامی نیستند که بر رفتار غیر معقولانه مقام‌های پاکستانی با افغانها مهاجر انگشت انتقاد می‌گیرند، بل دیپلمات سازمان ملل هم برخورد حکومت پاکستان با مهاجران را نادرست خوانده و از آن به عنوان مانع در برابر کمک‌های بشری یاد کرده است.
فراموش نشود که افغانها نه تنها مخل امنیت در پاکستان نیستند، بل در رشد اقتصاد پاکستان به گونه یی مستقیم و غیر مستقیم تقش داشته و در گردش چرخه اقتصاد آن کشور فعال بوده اند، امروز افغانها یکی از بزرگ‌ترین سرمایه‌گذاران خارجی در پاکستان اند.
معقول این است که مقام‌های پاکستانی در برخورد و راهکار خود با مهاجران افغان تجدید نظر کنند، منطقی و دور اندیش باشند، افغانان روز های دشوار را سپری خواهند کرد، مگر برخورد نا شایسته و دشوار را در ذهن‌ها حک می‌کنند.
بهتر است که پاکستان در چوکات کنوانسیون‌های جهانی عمل کند، نباید مهاجران حربه و ابزاری برای مقاصد سیاسی باشند.

# یوناما د افغان کډوالو په اړه پاکستاني چارواکي پوښتي

په کابل کې د یوناما د بشري چارو مرستیال له پاکستاني چارواکو سره د افغان کډوالو په اړه د خبرو لپاره هغه هېواد ته سفر کوي.
د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبد الکبیر پرون په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د یوناما د بشري چارو له مرستیال او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د بشري او پراختیایي ټولنې له مشر اندریکا راتوت او مل پلاوي سره وکتل.
اندریکا راتوت په دغه کتنه کې له مرستندویه ادارو سره د اسلامي امارت همکارۍ، میلیونونو افغانانو ته د مرستو رسولو په برخه کې ارزښتناکه وبلله او له دې امله یې مننه وکړه.
نوموړي وویل چې تېر کال د هرات له زلزله ځپلیو او له پاکستان څخه د را ایستل شویو افغانانو سره د ملګرو ملتونو مرستې مهمې وې.
اندریکا راتوت زیاته کړه، چې په افغانستان کې د بشري مرستو رسولو په موخه له مرستندویو هېوادونو څخه د ۳ میلیارده ډالرو د غوښتنې تر څنګ پلان لري د ظرفیت لوړولو په برخه کې هم تر۲ میلیارده ډالر وغواړي.
نوموړي له پاکستان څخه د افغان کډوالو د دویمې لړۍ پیلېدو ته اندېښنه څرګنده کړه او ویې ویل چې په پاکستان کې مېشتو افغانانو ته باید خپلو مېنو ته د تګ لپاره کافي وخت ورکړل شي او په زور ایستلو ته اړ نشي.
هغه د کډوالو په اړه د کابل او اسلام آباد ترمنځ په خبرو اترو د ټینګار تر څنګ وویل چې نوموړی به په نږدې راتلونکې کې پاکستان ته سفر وکړي او د یاد هېواد له چارواکو سره به د افغان کډوالو په اړه خبرې وکړي.
سرچینې همدارنګه د کډوالو سره د پاکستان د حکومت چلند ناسم او د بشري مرستو پروړاندې خنډ یاد کړ.
نوموړي د کاسا زر سیمه ییزې پروژې د پیل په برخه کې هم د اسلامي امارت هڅې وستایلې او زیاته یې کړه، چې په افغانستان کې له پانګونې څخه ملاتړ کوي؛ دغه راز د اقتصادي ودې په موخه له افغان او نړیوالو اړخونو سره خبرې کوي، څو په افغانستان کې بانکي خنډونه لرې شي.
په ورته وخت کې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال په دغه کتنه کې وویل چې د پرلپسې وچکالۍ او اسلامي امارت ته د فقر او لوږې په میراث پاتې کېدو له امله افغانان بشري، پراختیایي او د ظرفیت لوړولو په برخه کې مرستو ته اړتیا لري.
د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال څرګنده کړه، په اوسنیو شرایطو کې له پاکستان څخه د افغانانو ایستل، د مرستې رسولو پروسه او بشري حالت زیانمن کړي او ټینګار یې وکړ، چې باید له کډوالو څخه سیاسي ګټه وانه خیستل شي.
د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال د خپلو خبرو په پای کې د اسیا پراختیایي بانک او نورو بنسټونو وغوښتل چې په افغانستان کې دې خپلې نیمګړې پروژې بشپړې کړي.




# ځینې رسنۍ د زهرو په شان ګرندۍ اغېز کوي

**حیا ت الله حلیم**

بې پرې او په نړیوالو معیارونو برابرې رسنۍ مستند خبرونه او معلومات تر نړۍ رسوي، خو بر عکس یو شمېر مغرضې او مطلبي رسنۍ بیا د سمو معلوماتو او کره خبرونو پرځای د زهرو په شان تېز، یو اړخیز او سلیقوي تبلیغات خپروي ، د دې رسنیو د خپرونو په اړه سالم او عادلانه قضاوت اوس د هر چا په ذهن کې پروت دی ځکه ټول پوهېږي چې رسنیو د درواغو له وجې خپل مسلکي رسالت او ماهیت بایللی ځکه نشرات یې له معیاري چوکاټ نه داسې وتلي چې له افغانانو سره کاملاً د مدعیانو په بڼه عمل کوي، همدې رسنیو د ژورنالېزم اصول تر پښو لاندې کړي ځکه داسې درواغ وایي چې د اورېدونکو په سر اور بلوي، له ډېرې کوچنۍ موضوع داسې تبلیغاتي وسیله جوړوي چې د خبر او ژورنالېزم په اصولو کې هېڅ مورد نلري ، دیوې موضوع یا کومې پېښې په اړه چې د دوی په زړه جوړه تبلیغاتي جنبه ولري، تور په سپین او سپین په تور نوموي، چې د دوی په بې شرمۍ یې اورېدونکي پرې خجالت کېږي ، موږ دوی ته توصیه نه کوو، بلکې ور په زړه کوو او دغه حقیقت ته یې پام را اړوو چې که چېرې کومه رسنۍ له خپلو اورېدونکو نه د خپلو خپرونو د منلو تمه لري باید په درواغو کې له افراط او په خپرونو کې له کج زبانۍ لاس واخلي او داسې حقیقتونه خپاره کړي چې اورېدونکو ته یې د منلو وړوي بیا هم دغه ټکي ته اشاره کوو د دې لپاره چې خپل خبرونه یا نور معلومات په اورېدونکو ومني، لازمه ده چې رسنیز رسالت په پام کې ولري، له دقت، حقیقت او تعادل چې د ژورنالېزم اساسي او بنیادي اصول دي کارواخلي ، نه داچې په خپلو خود غرضه خپرونو کې دومره افراط وکړي چې دوست اورېدونکي یې هم خپله رادیو خاموشه اوپه دوی لعنت ووایي.
زموږ خبره د ځینو رسنیو پریو اړخیز مضریت تکیه ده او بیا مو هم پیغام دې رسنیو ته دادی چې د بېځایه تبلیغاتو پر ځای خپل ژورنالیستیک اصل ته په پام خپل مسئولیتونه ادا کړي او خلکو ته پر وخت او دقیق خبرونه ورسوي.



# د فقیرانو پر حال اوښکې تویول

امیرالمومنیــن حضــرت عمر (رض) یو مهال د شــام حمص ولایت ته سفر وکړ خلک ورته راغونډ شــول، امیرالمومنین خلکــو تــه وویل چــې د خپل ښــار د فقراوو لېســت راکړئ چې مرسته ورسره وکړو، خلکو لســت ورکړ، امیرالمومنین لېســت کتلو چې د ســعید بن عامر نوم په کې راووت خلیفه و پوښــتل دا سعید بن عامــر څوک دی؟ خلکو وویل زموږ والي !

امیرالمومنین وپوښــتل چــې ولې هغه تنخــواه باندې څــه کوي خلکــو ورته وویل: چــې هغه ټوله پــر بېوزلو خلکو ویشي، دې خبرې ســره د امیرالمومنین اوښــکې بهېږي او زر دینــاره د کور د لګښــت لپاره ورلېــږي. والي حضرت ســعید بن عامر هغه پیسې هم پر بېوزلو ویشــي او وایي: چې د دنیا فتنه په کور کې نه ساتم

بل مهال حضرت عمر رض د اســلامي لښــکرو د لیدو لپاره د شام سرحداتو ته ځي، لښکر ته رســیدو سره د قوماندان خیمې ته رهنمایي کېږي، ســتر صحابي د امــت امیــن حضــرت ابوعبیــده بن جــراح د پوځ قوماندان خــو خیمې کې شــتون نلــري او د لښــکریانو د چارو ســمبالتیا لپاره له خیمې وتلی و، غرمه کېږي امیرالمومنیــن ته ویل کېږي چې د ډوډۍ وخــت دی ډوډی بــه راوړو،

امیرالمومنیــن ورته وایي هو رایې وړئ، ســرتیري پوښتنه کوي د جنګیالیو ډوډۍ کــه د قومانــدان ډوډۍ؟ امیرالمومنین پوښــتنه کوي آیا د دوی په ډوډۍ که هم توپیر شته؟

سرتیری ورته وایي: هو!

امیرالمومنین فرمایي د ســرتیري ډوډۍ راوړئ، شــیبه وروســته ښــوروا غوښه او ډوډۍ راوړل کیــږي، امیرالمومنیــن کاسې ته ګوري بیا وایي چې د قومندان ډوډۍ هــم راوړئ! ســرتیري ځي او دا ځل د شړومبو یا تروو یوه کاسه او وچه ډوډۍ د امیرالمومنیــن مخې ته ږدي.

امیرالمومنین غږ کوي ستاســو قومندان همدا خوري؟

هغوی ورته وایي: هو!

د قومنــدان خــوراک مــو همــدا ده، امیرالمومنیــن ســخت تــر تاثیر لاندې راځي او په داسې حال کې چې اوښکې یې بهېږي وایي: خــدای دې پرتا رحم وکــړي ای ابوعبیده په رښــتیا چې ته د دې امت امین یې.

که رښــتینی اســلامي نظــام جوړول په افغانســتان که غواړئ نــو دا یې د والي او قوماندان ځانګړتیاوې دي.

او که د ځــان لپاره آســانتیا او انعطاف زغمــلای شــو بیانــو راځــئ چــې د افغانســتان ځورېدلي ملــت لپاره هم په ټولو چارو کې آســانتیاوې وزغمو.

# د نــړۍ واکمــنې ښــځې

محمدعلي

په بشــري تاریخ کې ډېرې ښځې د واک څوکیو ته رســېدلې ، په کفارو ښځو کې په دې پســې نه ګرځــو. په مســلمانانو کــې هم ځینې ښــځې د قدرت په ګدۍ ځلېدلــې دي، لکــه: رضیــه ســلطان غــورۍ، چې د ســلطان شــهاب الدین غــوري رحمه الله له غــلام قطب الدین ایبک[چــې د دهلي واکمــن و] نه پس ســلطان التمش پاچا شو او بیا د هغه لور رضیه سلطان د دهلي واکمنه شوه.

د رضیه ســلطان پــر واکمنېــدو باندې بحــث نه کوو، چــې هغه مهــال علماؤ کرامــو رحمهــم اللــه اجمعیــن څنګه موقــف اختیار کــړی و؟ همدا شــان د لاهور والي معین الدیــن چې په مېرمنو باندې مشــهور و او احمدشاه بابا هغه د هغه ځای والي پریښــی و، هغه چې ومړ او زوی یې محمد امین واکمن شــو، نو د هغــه پرځای یې مــور مغلاني بېګم د ولایت چارې پر مخ بېولې. داسې نورې مسلماني ښــځینه به هم د واک پر ګدۍ کېناســتلې وي، د هغــوی د واکمنېدا په رابطه د علماؤ دریځ راته روښانه نه دی، چې هغــوی څنګه دریځ درلود؟ اما کله چــې د ایران (هغه مهــال فارس) وګړیو د کســری لور د واک او ځواک څښــتنه کړه، نو رســول الله صلی الله علیه وسلم وویل: «لن یفلح قوم ولوا امرهم امرأة» ژبــاړه: [هیڅکله به هغه قــوم بریالی نه شي چې د (امارت/ واکمني) کارونه یې ښځې ته وســپارل.] بخاري (۴۴۲۵) ـ نسایي(۸/۲۲۷)

او امام نســایي د دې لپاره داســې باب خــوښ کــړی: (النهــي عن اســتعمال النساء في الحکم)

پــه پورتنــي حدیــث کــې د ښــځو په واکمنېــدو بانــدې بلــه کومــه نیوکه نه شــته چې په هغوی کې بــه د قیادت او مشرتوب صلاحیت او وړتیا نه وي. بس ستونزه دا ده چې دا کار د هغې له خلقت ، فطرت او طبیعت ســره ســم نه دي او د شــریعت له احکامو ســره موافقت نه کــوي، ځکه هــره بالغه ښــځه له خپل عادت سره سمه هره میاشت رنځورېږي او له زېږونه وروسته هم تر (۴۰) ورځو پورې هغــه رنځــوره وي. د بل حدیث مطابق ښــځې د عقــل او دینــدارۍ له مخــې نیمګړتیا لري، ابو ســعید خدري رضي الله عنه وایي: پــه وړوکي یا لوی اختر رســول الله صلی الله علیه وســلم د ښــځو لور ته ورغلو او ورته ویې ویل: (مــا په دوزخ کې ډېرې ښــځې ولیدلې! )ښــځو وویل: یا رســول الله! ولې؟ ده مبارک ځواب ورکړ: (هغــوی لعنت ډېر وایي او نافرماني کوي). بیا رســول الله صلــی الله علیه وســلم ورتــه وویل: ( چې عقــل او دین یــې نیمګړی دی...) هغوی وویل: د دیــن او عقل نقصان یې په څه کې دی؟ رســول اللــه صلی الله علیــه وســلم ورته وویل: (ایا د ښــځې شاهدي د سړي د شــاهدي په نیمایي نه ده؟) هغوی وویل: هوکې ده. رسول الله صلــی الله علیه وســلم وویل: (دا یې د عقل نیمګړتیا ده، آیا [داســې نه ده] کله چې میاشــتنۍ ناروغي وربانديې راشي، بیا لمونځ نه کوي او روژنه نه نیســي؟)

هغوی وویل: هو همداســې ده. رســول الله صلــی الله علیه وســلّم وویل:( نو همدا یــې د دین له نقصــان او نیمګړتیا څخه ده). بخاري مسلم

اســلام د ښــځې خورا زیــات اکرام او عزت کړی ، دقدر او درنښــت په سترګه ور ته ګوري ، خو یوه مســلمانه ښــځه رســول الله صلی الله علیه وسلم د هغه راشــدو خلیفه ګانو او نورو ســترو سترو اصحابانو رضي الله عنهم چیرته د والي او قوماندان په توګه نــه ده ټاکلې. همدا شان وروســتیو خلیفه ګانو هم د ولایت او قومانداني پــه څوکۍ نه ده تعین کړې او که احیانــاً د واکمني په څوکۍ ګمارل شــوې وي، هغه ګمارنه هم د رسول الله صلــی الله علیه وســلم له حدیث ســره ټکــر دی او څه چې له حدیث شــریف سره ټکر وي، هغه مردود دي.

د ښــځو فزیکي جوړښت داسې دی چې هغوی له محرم پرته ســفر نه شي کولی، هغه کار چې ســړی یې ســرته رســوي دوی یې نه شي اجراء کولی. جهاد ته له محرمــه پرته د تللو جوګــه نه دي، ځکه چې شرعي اعذار لري. چې سفر نه وي او حجاب هم له منځه نه ځي هغه مهال ښځه هم د دښمن ورمېږ ورماتولی شي، لکه صفیه بنــت عبدالمطلب رضي الله عنهــا د احزابــو د غــزا پر وخــت د بنو قریظه و د یوه ســړي ســر ور غوځ او د هغوی د تللــو لارې تــه ور خطا کړ. د هغه په وژلو کې ســفر نه و او د حجاب ســتونزه هم نه وه. همدا راز په اســلامي تاریخ کې ښــځو د اســلامي اصولو په

رڼا کې ســتر ســتر کارونه کړي دي. په معاصر افغانســتان کــې د میرویس نیکه مــور (نازو انا) د خپل پــلار او ورور په غیــاب کې خپله کلا ســاتله. د میوند په غــزا کې د میوند ملالې کیســه هر چا ته څرګنده ده چې بایلــل کېدونکې غزا یې د افغانانــو په نفع او فتح بدله کړه.

د افغــان انګلیس په غزاګانو کې خویندو فعالــه ونــډه لرلې، د شــوروي اتحاد د تجاوز او کمونیســتي ناتــار پرمهال یې سربښــندنې زموږ په مخکــې پرتې دی.

د صلیبي ښــکېلاک پر وخت چې ښځو د اشــغالګرو په وړاندې د مجاهدینو په ملیتــا څومره قرباني ورکړې دي، په هغو لوی لوی کتابونه کښل کېږي.

هــو! د صلیبــي اشــغال پرمهــال ښــکېلاکګرو ډېرې ښــځې په دې شعار چې: (سړي او ښځې به اوږه په اوږه کار کوي) بې لارې کــړې او تر وزارتونو یې رســولې وې چې له پردیو سړیو سره به د خپلو خاوندانو او ورونو غونډې ناســتې وې. د رســول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث شــریف یې نیوکــه کوله او د هغه خلاف به یې ناسم الفاظ کارول.

ښــځه واکمنــه او حاکمــه نــه شــي جوړېدلــی، که د کــوم مســلمان هېواد وګړیو پر ځانونــو حاکمه او واکمنه کړې وي او یا یــې په راتلونکــي کې کړي نو هغوی به ښــه ورځ په سترګو و نه ګوري او نــه به اللــه جل جلاله د هغــه هېواد علمــاء عزتمــن کړي، چې د ښــځې په حکومــت او واکمنــي چــوپ او غلي وي.

# مدیریت بهتر آب خطر خشکسالی را کاهش می دهد

نوری



باگذشــت هرســال، پایین آمدن سطح آب‌های زیر زمینــی و خطر کاهش آب و افزایش خشکســالی مشکلات زیادی را بــرای مــردم و به خصــوص دهقانان ومالــداران بوجود مــی آورد. آب منبع حیات است که بدون آن زندگی ناممکن می‌باشد. افغانســتان ازنظرداشتن منابع آبی نســبت به کشــورهای همســایه در موقعیت نسبتاً بهتر قرار دارد؛ اما به دلیل عدم مدیریت آن از ســوی دولتمردان و مســئولان طی ۲۰ سال گذشــته میلیون مترمکعــب آب‌هــای ما به کشــورهای همســایه به صورت رایگان سرازیر شده بنــاء ما نتوانســتیم بندهــای آبگردان و ذخیروی بســازیم تــا اســتفاده بهینه از آب‌های کشور خود کرده باشیم.

درحــال حاضر در شــهرکابل نزدیک به شــش ونیم میلیون نفوس زندگی میکند. آبهــای زیرزمینــی این شــهربرای یکی ونیــم میلیون نفــوس کفایــت میکند. مشــکل ۵ میلیون تــن دیگرراچطورحل کنیم؟اگرمابــه نقاط مختلف شــهرکابل برویــم حتماًمتوجــه کم آبی میشــویم. بنابراین لازم اســت که سیستم آبرسانی ومدیریت آب راتقویه کنیم. اولین شبکه آبرســانی کشور در شــهر کابل در زمان امیــر عبدالرحمن خان در ســال ۱۲۵۸ هـ ش با اســتفاده از چشمه‌هایی که در عقب شفاخانه ابن‌سینا موقعیت داشت، احــداث گردید و در زمــان امیر حبیب اللــه خــان (۱۲۹۳-۱۲۹۸ ش) آب کاریزهای پغمان به مخزن توزیع شــهر کابــل انتقــال می‌یافــت و از آنجا برای آبرســانی مرکز شهر اســتفاده می‌گردید و متعاقبــاً خدمات آبرســانی از ســال ۱۳۴۸ ش بــه بعد در ســایر شــهرهای بزرگ کشــور مانند هرات، مزار شریف، جلال آبــاد و کندهار آغاز گردید.غرض انســجام بهتــر امور خدمات آبرســانی در کشــور، اساســنامه تصدی آبرسانی و کانالیزاسیون بر اســاس فرمان شماره (۱۲۲۴) مــورخ ۱۳۵۳/۱۲ تصویــب و در جریــده رســمی شــماره ۳۰۱ مورخ۱۳۵۴ نشــر گردید.بعداً بر اساس مصوبــه شــماره ۲۷ مــورخ ۱۸ قوس ۱۳۹۹ کابینه حکومت قبلی نام شــرکت به «شرکت دولتی آبرســانی و فاضلاب شهری» تغییر یافته اســت.این اداره در بخش های عرضــه خدمات آب صحی آشــامیدنی و مدیریت امور فاضلاب در ساحات شــهری و نیمه شــهری کشور فعالیت دارد. شــرکت دولتی آبرسانی و فاضلاب شــهری با دیدگاه «دسترســی هر شهروند به آب آشــامیدنی صحی و خدمات فاضلاب» عملاً در ۲۲ ولایت و ۱۱ ولســوالی ارائــه خدمــات میکند. افغانستان جزء کشــورهای نسبتاخوب، و دارای منابع آب اســت.از طرف دیگر کلیه آبهــای موجود درافغانســتان قابل اســتفاده نیســت وچند درصد را آبهای شــور تشــکیل می دهند، که روزبه روز برمیزان آنها افزوده می شــود. از سویی بهره برداری بی رویه آبهــای زیرزمینی شــیرین از طریق چاههای عمیق و نیمه عمیــق باعث کاهش میزان آب شــیرین و افزایش آبهای شــورمی شود.درنتیجه حاصلخیــزی زمینهــای زراعتی کاهش می یابــد و تبدیل به زمینهای شــور می گردنــد؛ چــون تبدیــل آبهای شــور به شــیرین به دلیل بودجه زیــاد، مقرون به فایده نیســت، بنابراین باید با اســتمرار صرفــه جویی عمومــی ، برنامــه دقیق ،اســتفاده خوبتــر از آب ، جلوگیــری از ضایع شــدن منابع موجــود ، تصفیه مجدد آب مصرف شــده و بــه کارگیری مجــدد آنها، کمبــود آب را جبران کرد. اکثــر کشــورهای جهان جهــت تامین آب ســرمایه گذاریهای زیــادی کرده و با ایجــاد سیســتمهای گوناگون ازضایع شــدن آن جلوگیــری مــی کننــد. در کشــورهای شرق میانه نیز ، جنگ بعدی را جنگ بر ســر آب می داننــد. به طور مثال کشــورهای سوریه و عراق با ترکیه، رژیم اســراییل با فلســطینیان ساکن در کرانه رود اردن همــواره تامین آب مورد نیاز خود کشــمکش دارند.منطقه شرق میانه جزء مناطق کم آب دنیا می باشد، ولی رشــد نفوس آن از بالاترین رشدها است؛ از سوی دیگر با پایین رفتن سطح آبهای زیرزمینی و بالا رفتن مقدار نمک آبهای موجود و آلودگی روز افزون آنها، مســاله آب به یکی از چالشهای جدی و خطرناک منطقه تبدیل شده است.

بناٌ،لازم اســت که دولــت درزمینه حل پرابلــم آب گام هــای مثبت وکارســاز بردارد.سیســتم آبرســانی راباســتفاده ازتکنالــوژی معاصربازســازی وتقویه کند.کمپایــن های آگاهــی دهی راطور دوامدارراه انــدازی کند،تامردم مصرف آب رابــه حداقــل کاهــش دهد.بدون همــکاری مــردم هیــچ برنامــه آب به موفقیت نمی‌انجامد.

# ښوونکی

عظمت

ـ ټوله ځواني مې پــه تدریس کې تېره کړه او د خپلو زده کوونکو په زړه کې مې حق دین وکاره.

۲ ـ زده کوونکــي به په خپلــو منځو کــې زما د هڅو مننــه کوي او د عقل څښــتنان د انســان فضلیــت پېژني.

۳ ـ زمــا د تیــاري (چمتــو کولــو) کتابچه وپوښــته، بلکې زما له بکسې پوښــتنه وکــړه. او پــه ټولګــي کې زمالــه تختــي او کتابه ســوال وکړه.

۴ ـ زمــا لــه کتابتــون، وســائلو او کتابچــو څخــه پوښــتنه وکــړه. هغــوی ټول بــه تا تــه ووایــي چې زه د اعــراب پــه نیکــي ســپروم.

۵ ـ او همــداراز لــه منجده وپوښــته چې مــا هغــه تدریس کــړی دی.او د محــراب لــه امامــه وپوښــته.

٦ ـ او کله چې د ډاکټر له کوره تیرېږي، له هغه پوښتنه وکړه. چې له هغه اوس د اعصابو او زړه ډاکټر جوړ شــوی.

۷ ـ او لــه اِنجنیره وپوښــته چې هغه څنګــه اِنجنیر شــو. مانــۍ (ودانۍ) یــې آن تــر ورېځــو پورتــه کــړې.

۸ ـ زما څارونکي (پام اړونکي) ته په ورین تندي غوږ کېږده. څو د هغه نقد چې پر ما یې کوي، تا مسخره نه کړي.


۹ ـ او دا زده کــړه چــې د خلکــو ترمنــځ زه د هغــه اســتاذ یــم. چې هغــه د زده کــړې او تعلیــم لــه پاره زمــا دروازه څومــره ټکولــې ده.

۱۰ ـ مــا څومــره فکر کــړی، څو زه د هغــه د ترقي لــه پاره خپــل ماغزه ووینځــم. او نــن ورځ هغــه زمــا د نشــتوالي او غیــاب څارنــه کــوي.

۱۱ ـ چــې زه د تېرېدلو له پاره څومره پُــل وم. زه هغه څــوک وم چې خپل شاګردان مې سمې لارې ته برابر کړي.

۱۲ ـ د شــاګردانو هوســاینې لــه پــاره تــل ولاړم وم. همــداراز احتیــاط دنصــاب لــه پاره زمــا بل ګام و.

۱۳ ـ په تدریس کې مې هره ســتونزه وګاللــه. خو له خپــل رب جل جلاله څخه د ثــواب هیلــه لــرم، الله جل جلاله دې نه ضائع کوي.



# د رمضان یوولسمه او دوولسمه ورځ؛ د تاریخ له پاڼو

حسان مجاهد

**۱_ د سعيد ابن جبير رح شهادت**

مشهور تابعي، إمام، حافظ او مفسر سعيد ابن جبير رض په ۹۵هـ کال د رمضان په يوولسمه ورځ د ظالم پاچا حجاج بن يوسف ثقفي له لوري په شهادت ورسول شو. نوموړي له ام المؤمنين عائشې، ابن عباس، عبد الله بن مغفل، عدي بن حاتم، أبي موسى الأشعري، أبي هريرة، أبي مسعود البدري، ابن عمر، أنس او أبي سعيد الخدري(رضي الله عنهم) څخه احاديث روايت کړي دي. کله چې حجاج د ترک باچا «رتبيل» مقابلې ته إبن الأشعث وليږل، سعيد بن جبير رح يې د لښکر په لګښتونو مشر وټاکل، حجاج وروسته له هغه چې إبن الأشعث او سعيد بن جبير رح يې دواړه له دندې ګوښه کړو، د إبن الأشعث په نيولو برلاسه شو، خو سعيد بن جبير رح اصفهان ته وتښتېدل، حجاج په اصفهان کې خپل ځای ناستي ته د سعيد ابن جبير رح د نيولو امر وکړ، نوموړی چې خبر شو، سمدستي له همغه ځايه هم په پټه لاړ، بيا هم هر کال به يې حج او عمره کوله، بلآخره په مکه معظمه کې هستوګنې ته اړ شو، يو چا ورته له حجاج څخه د تيښتې مشوره ورکړه، نوموړي ورته وويل: نور له الله تعالی څخه حيا راځي چې له دغه ځايه ځم، خالد بن عبدالله قسري د حجاج په اشاره هغه ته سعيد بن جبير، عطاء بن أبي رباح، مجاهد، عمرو بن دينار او طلق بن حبيب وليږل، عطاء او عمرو بن دينار يې بيرته و ښښل، طلق بن حبيب په لاره وفات شو، مجاهد رح د حجاج تر مړينې په زندان کې پروت و او سعيد بن جبير رح باندې د وژلو پرېکړه وشوه. له څو پوښتنو او ځوابونو وروسته د سعيد ابن جبير رح سر له تنه جلا شو او په شهادت ورسول شو، په همدې جلا سر يې درې ځله کلمه وويله او خپل روح يې خالق لايزال ته وسپارل. حجاج د سعيد له شهادته ځلويښت ورځې وروسته مړ شو او کله چې به ويده شو، خوب به يې ليد، چې سعيد بن جبير رح تر ګريوان نيولی وي او ورته وايي: ای د خدای دښمنه! په څه دي ووژلم؟




**۲_ د صفويانو ماتې**

د عثماني خلافت سلطان مراد الثالث په ۹۸۵هـ کال يو لوی لښکر تيار کړ او د جورجيا پلازمېنې «تفليس» ته له جګړې سره ننوت، د ژمي په رارسېدو سره جګړه معطله شوه او د اوړي په رارسېدو سره عثماني ځواکونه اذربايجان ته وکرځېدو، د ققفاز په شمال کې «شماهي» ښار کې د عثماني ځواکونو او صفويانو ترمنځ سخته جګړه رامنځته شوه او ۹۸٦هـ د رمضان په يوولسمه ورځ دا جګړه د عثماني ځواکونو په بريا او د ۱۵۰۰۰ صفويانو په وژنه او ماتې پای ته ورسېده.

**۳_ د جنکيز خان هلاکت**

د مغلو د امپراتوري بنسټګر تيموجين د يسوکاي زوی چې په جنکيز خان مشهوره و، د نړۍ مشهور خونخوار، د ميليونونو ښځو، ماشومانو او بوډاګانو وژونکی او د ډېرو ښارونو ويجاړونکی په ۵٤۹هـ کې پيدا او ٦۲٤هـ د رمضان په يوولسمه نېټه مړ شو.

د رمضان په دوولسمه نېټه

**۱_ د «بُوَيْب» معرکه**

دا ستره معرکة د عمر بن الخطاب رض په زمانه د فارسيانو او مسلمانانو تر منځ وروسته له هغه رامنځته شوه، چې د «جسر» په پېښه کې مسلمانانو د ايرانيانو په وړاندې ماتې وخوړه، په دې معرکة کې د اسلامي لښکر مشر مثني بن حارثه رض خپل پوځونه د «بُوَيْب» لوري ته متوجه کړو، نوموړي د «فرات» رود لويديځ لور ته داسې ځای انتخاب کړ چې د مسلمانانو او کفارو تر منځ فاصله وه، له څه وخت وروسته نور کومکي لښکرونه را ورسېدو چې د مسلمانانو ټول شمېر اته زره او د فارسيانو شمېر له شپيتو تر اويا زره پورې و.

مثني بن حارثه رض دا تکتيک په پام کې ونيول چې د کفري لښکر په منځنۍ برخه يې بريد وکړ، کفار دوې ډلې شو او مسلمانان يې په وژلو بريالي شو، همهاله جرير بن عبدالله رض د کفارو مشر مهران ووژل چې وژنې يې د پلويانو په روحيه خورا بد اغېز وکړ، کفارو د تيښتې هڅه وکړه، خو مثني بن حارثه رض په خپله لاړ او هغه پل يې له منځه يووړل چې د تيښتې لاره پرې تيره شوې وه، په همدغه ځای کې کفار له محاصرې وروسته مات شو او تر پنځوس زره زيات کسان يې ووژل شو.

**۲_ د مسجد نبوي سوځېدل**

په ۸۸٦هـ کال چې کله په مدينه منوره کې سخت بارانونه پيل شو، په دغه وخت کې د تندر يوه د اور ټوټه د مسجد نبوي په آذان خانه را پرېوته چې له امله يې داسې اور ولګيده چې وژل يې د خلکو له توانه بهر و، لومړی د مسجد بام اور واخيست او ټول ديوالونه، پکې پراته کتابونه او قرآنکريمونه و سوځېدل، همداراز شيخ شمس الدين بن الخطيب هم د آذان کولو پر مهال شهيد شو.

**۳_ د ابن جوزي رح وفات**

أبو الفرج عبدالرحمن بن جوزي رح چې د نسب شجرة يې أبو بکر الصدّيق رض ته رسېږي، په ۵۱۰هـ په بغداد کې وزيږېد او په ۵۹۷هـ کال د رمضان په دوولسمه نېټه وفات شو، په مړينه يې ډيرې د غم اوښکې توی شوې او د رمضان تر پايه يې د قبر تر څنګ د ايصال ثواب ختمونه روان و. نوموړي په ماشومتوب کې د تبليغ، تدريس او تصنيف وړتيا په ځان کې پيدا کړه،

لکه دی چې وايي: ما لومړنی تصنيف په ديارلس کلنۍ کې وکړ. د شاوخوا زرو کتابونو ليکوال او د اغيزناک وعظ او تبليغ څښتن و، د وعظ مجلس ته به يې د وخت د پاچاهانو، وزيرانو او نورو لوړ رتبه کسانو په ګډون يو لک کسان حاضرېدل، نوموړی وايي: په خپلو ګوتو مې زرګونه کتابونه ليکلي، يو لک کسانو زما په لاس توبه ايستلې او شل زره نور مې بيا په لاس مسلمان شوي دي.

# باران‌های بهاری و احتمال سیلاب‌ها

استوار

باران‌های موسمی علاوه از اینکه برای کشت و کار و سرسبزی بی‌نهایت مؤثر است، تورم با سرازیر شدن سیلاب‌ها نیز می‌باشد بناءً نباید از جاری شدن خطرات ناشی از آن را فراموش نماییم. زیرا طی سالیان متمادی شاهد خسارات سیلاب‌ها در ولایات مختلف کشور بوده‌ایم.

طوری که در چند روز گذشته از اثر ریزش باران و ژاله در ولایات شمال کشور که باعث سرازیر شدن سیلاب‌های شدید گردیده خسارات زیاد مالی و جانی را به هموطنان عزیز ما رسانیده است.

ولایات فاریاب، بادغیس، سرپل و جوزجان از جمله ولایاتی اند که از اثر سیلاب‌های ویرانگر متضرر گردیده‌اند.

در ولایات مختلف کشور نقاط آسیب‌زا و جاهایی که تحت تهدید سیلاب قرار دارد به مردمان محل و مسئولین محلی معلوم و قابل تشخیص است در صورت امکان و توان همان نقاط آسیب‌پذیر قبل از سرازیر شدن سیلاب از سوی مردمان محل دیوار و سد گردد و اگر از توان مردمان محل و مسئولین محلی به دور باشد بهتر است نهادهای ذیربط دولتی در جریان گذاشته شوند. تا با تشخیص نقاطی مورد نظر مسیر سیلاب‌ها تنظیم و نقاط آسیب‌پذیر دیوار و مستحکم گردد. زیرا در صورت بروز سیلاب‌های خطرزا علاوه از این‌که منازل رهایشی مردم ویران و خراب می‌شود زمین‌های زراعتی و باغ‌های که در مسیر سیلاب قرار دارد نیز از میان برداشته شده و خراب می‌گردد.



در زمینه جلوگیری از حوادث غیر مترقبه بهتر است اداره ضد حوادث و مسئولین آن با همکاری و تفاهم ادارات محلی و مردمان محل قبل از قبل تدابیر لازم اتخاذ نموده جلو آفت‌های ویرانگر را که سبب مرگ و میر و ویرانی خانه، باغ و زمین‌های زراعتی مردم می‌گردد، گرفته و اضرار آفات در حد اقل قرار گیرد.


قابل ذکر است هر سال سیلاب‌ها و دیگر آفت‌ها؛ چون: زلزله، آتش‌سوزی و سرازیر شدن سیلاب‌های از مردم ناتوان ما قربانی مالی و جانی می گیرد. از اداره محترم ضد حوادث امید برده می‌شود و جهت جلوگیری قبل از وقوع حادثات رسیدگی صورت گیرد.

در کشورهای با امکانات همچو آفات به وقت و زمان مناسب مهار و جلو آن گرفته می‌شود، اما در جامعه ما بعد از وقوع حادثه برای متضررین یک مقدار مواد خوراکی و چادر کمک می‌شود که این درد مردم را درمان نمی‌کند.

بایسته است به غرض جلوگیری از حوادث احتمالی از قبل یک مقدار هزینه در نظر گرفته شود و در بعضی موارد که ایجاب می‌نماید قبل از بروز حادثه تدابیر لازم اتخاذ گردد و در بعضی موارد دیگر که ایجاب رسیدگی بعد از حادثه را می‌نماید آمادگی لازم داشته باشند، تا باشد هموطنان درد دیدهٔ ما از حوادث احتمالی محفوظ و در امان باشند.

# روژه کې د اعتکاف کولو فضیلت او ثواب

مولوي عبدالجبار درويش




مسلمانانو وروڼو د رسول الله مبارک به دا عادت و،چې د رمضان په وروستيو لسو شپو کې به يې اعتکاف کولو د رمضان مياشتې د شلم تاريخ د لمر پرېوتو نه لږ مخکې رمضان د يو کم ديرش يا ديرشم تاريخ د لمر پرېوتو پورې د ښځو لپاره د خپل کور په داسې ځای کې کوم چې يې د لمونځ لپاره مقرر کړی وي په پابندي او اهتمام سره کيني او سړی په داسې جومات کې چې پنځه وخته د امامتې لمونځ په کې کېږي دې ته اعتکاف وايي د دې ډېر لوی او عظيم الشان ثواب دی چې اعتکاف ته کيني،نو بغير د ضروري حاجت نه او د خوراک لپاره د راوتو نه نور راوتل د هغې ځای نه جايز نه دي که د خوراک راوړلو څوک وو، نو بيا به د خوراک لپاره هم نه راوځي هر وخت به هلته پاتې کېږي او هلته به ويده کېږي او غوره داده چې هسې دې نه کيني د قرآن کريم تلاوت دې کوي ډېر ډېر نفلونه دې کوي تسبيح او تهليل دې کوي او که حيض يا نفاس ورله راغئ نو بيا دې پاتې کړي ليکن له پاتې کيدو نه وروسته به صرف د دغې يوې ورځې د اعتکاف قضا راوړي که په رمضان کې راوړي نو د رمضان روژه ور له پوره ده او که بله ورځ وه روژه به ورسره نيسي په اعتکاف کې جماع او کوروالی جايز نه ده د حضرت عبدالله ابن عمر نه روايت دی چې نبي کريم ص به د رمضان اخرې لسو ورځو کې اعتکاف کولو (متفق عليه) د حضرت عايشه (رضي الله عنها)نه روايت دی چې نبي کريم به تل د رمضان اخرو لسو ورځو کې اعتکاف کولو تر دې چې الله تعالی واخيستلو بيا د نبي کريم ص بيبيانو د هغې نه وروسته په دې ورځو کې اعتکاف کولو. متفق عليه

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی چې نبي کريم ص به هميشه هر رمضان کې لس ورځې اعتکاف کولو نو بيا چې په کوم کال د دنيا نه رحلت کولو نو شل ورځې اعتکاف يې وکړو (بخاري شريف) ښاغلو مسلمانانو وروڼو کوښښ وکړئ د رمضان مبارکې مياشتې په اخري عشره کې اعتکاف درنه پاتې نه شي ځکه چې په دغه شپو او ورځو کې د قدر شپه راځي او هغه شپه د زرو مياشتو نه غوره او افضله ده که څوک ډېر د کار مجبوره نه وي بايد چې په دغه اخيري عشره کې خپل ټول کارونه وتړي او د الله تعالی په کور کې جرګه شي چې کله هم الله تعالی د دغو مسلمانانو نه اعتکاف قبول کړی او دغه شپه يې نصيب شي د ثواب په اعتبار سره د ده زر مياشتې عمر زياتېږي چې ډېر زيات کلونه راځي الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو مسلمانانو وروڼو ته په دې باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي امين ثم امين

# د غريب کور!

**زاهد**

اراده مـــې د غريب کـره د تلـو شوه
د پوښتنې ګروېږنې مې ارزو شـوه

د غريب په کـــور کـې مـاته دروازه وه
نه له غله نه له بدخوا يې انديښنه وه

نارينـــه يې ټـول وتلــــي وو وکارته
څوک په کلي کې مشغول ووڅوک وښارته

نېک کوچنيان وو خو کالي يې لړ زاړه وو
غټان تللي مدرسې ته کور واړه وو

څو مېرمنې وې خرڅنې يې جامې وې
خو په رنګ او په عاداتو ښايستې وې

روغ رمټ يې بدنـونه ګړنــــدی وې
په ګامو لګه د غره خرې هوسۍوې

چای ډوډۍ يې راوړل کور لوښي يې پاک وو
ټول کوچنيان يې عادت شوي حياناک وو

سترې شوې وږې شوې وې له کاره
وډوډۍ ته سره راغلې په کراره

ها د چايو ډوډۍ څنګه خوندوره
ومعــــــدې زړه او بدن ته ګټوره

ټولو وخوړه په خوند له د سترخوانه
تا به ويل من او سلوا ده له آسمانه

هرې ښځې ته پيسې څه ورسره وې
دوی قانع لګه په هرڅه چې پوره وې

له کارونو څخه راغلل څو ځوانان وو
چې کالي يې کړل بدل لکه ګلان وو

سره کښېناستل په مينه په خندا وو
له رعيت له حـــکومته بـــې پروا وو

هو د زړه د خوشــــالي بله دنياده
چې هســـتي يې رسېدلې ترهرچاده

غريب خوښ وي چې هوسايې شول مزلونه
وســــــيکل ته نوي کړي يې ټېرونه

خان اخيستی قېمتي نوی موټر وي
په خوښي کې سره دواړه برابر وي

کاش چې تله وای په سترګو مو ليدلی
چې خفګان او خوشالي مو په تللای

زما ظن دی غم خوښي يې په يو شان وي
خو په سترګو يو نو کر وي او بل خان وي

دغه ظن مې بدل شو په يقين وی
رسېدلی د ( زاهد) زړه ته تسکين وی

# يمن و فيض رمضان

**استوار**

ماه عشق و ايمانست خواه هر آنچه می‌خواهی
يمن و فيض قرآنست خواه هر آنچه می‌خواهی
توبه است و استغفار شب تا به سحر هر سو
شستشوی عصيانست خواه هر آنچه می‌خواهی
سفره‌ها هم رنگين از عنايت يزدان
روزه امر سبحانست خواه هر آنچه می‌خواهی
نور است شبانگاهان از قرائت قرآن
مرحمت يزدانست خواه هر آنچه می‌خواهی
الطاف کنيد ياران ابر و رحمت باران
روزه دار مهمانست خواه هر آنچه می‌خواهی
برخيز ز خواب «استوار» توبه کن و استغفار
مغفرت و بارانست خواه هر آنچه می‌خواهی

# د مدينې پر لــور

**څلورمه برخه / ليکوال: سيد ابوالحسن ندوي رحمه الله / ژباړن: محمدصادق طارق**



همدا راز مې د ابودجانه رضی الله عنه کيسه ولوستله چې ځان يې د رسول الله صلی الله عليه و سلم لپاره سپر وګرځاوه او په داسې حال کې چې غشي به يې پر شا لګېدلی ځان يې پر رسول الله صلی الله عليه و سلم راټيټ کړی ؤ.
داسې نورو ورته کېسو چې د مينې او محبت ښکارندويي کوله زه يې تر اغېزو لاندې راوستم؛ کله به مې په ژړا کې د شوق رنې اوښکې څڅولې او کله به مې خوشحالۍ پر درست وجود څادر وغوړاوه.
د همدې کتاب او مخلص ليکوال نه هېريدونکی احسان دا دی چې زما په زړه کې يې د عشق پټه کيميا را ژوندۍ کړه؛ داسې کيميا چې له هغې پرته ژوندون لذت او ارزښت نه لري. د فارسي ژبې شاعر امير خسرو رښتيا ويلي چې: ((پر هغې ورځې دې مرګ وي چې د مينې خوند په کې و نه څکم، هغه ګړۍ دې نېکمرغه نه وي چې د محبت له ملايم نسيم څخه تش وي او مرګ دې په داسې ژوندون وي چې ټول د عقل او منطق په اتباع کې تېروم)).
هوکې! مينه او محبت د ژوندون حاصل او مغز دی څومره ښه يې ويلي چې: ((نړۍ ته چې مې وکاته د خرمن ځای غوندې راښکاره شوه چې له مينې پرته نور هر څه پکې پوستکي، پلوړ او واښه ؤ)).
همدا مينې اتلان او نابغه انسانان له خپلو سيالانو او همزولو څخه ممتاز کړي دي، د ټولنې ميانه او کمزوري قشر د همدې مينې له امله داسې آثار پرې ايښي چې ډېرو غښتلو او شمتنو خلکو نه شوه کولای ملتونه پرې تسخير کړي او هغه ملتونه چې مينې ته يې لاس رسی موندلی دی درسته نړۍ يې په واک کې اخيستې ده.
د امت وروسته پاتې خلک په وروستيو پېړيو کې د همدې مينې څخه بې برخې شول چې بې روح کالبوت ته ورته دي او د ژوندون پر اوږو بار دي. هغوی د زيات مال، بې کچې تعليم، لوړو مقامونو او سترو هېوادونو خاوندان شول خو لمنې يې د ژوندون له کيميا تشې دي. نوی روزل شوی نسل مو د ټولنې د نورو طبقاتو په پرتله له همدې مينې څخه بې برخې پاتې دي چې تر ټولو بې روح، کمزورې او سپکه طبقه ګڼل کېږي.
له همدې کتاب او ليکوال نه يې مننه کوم ځکه د وجود پټه مينه يې راژوندۍ کړل او ترې مننه کوم چې د مينې مسير يې مخ پر هغه چا واړاوه چې د مينې او محبت ارزښت لري؛ مخ پر هغسې چا چې د ښايست په صفتونو او اعجازي ورتياوو ښايسته کړل شوې او د نړۍ خالق د خلقت او ښو اخلاقو له پلوه بل څوک تر هغه ښايسته او دنګ نه دی پيدا کړي.
د همدې امت ستر ناورين دا دی چې خپلې اړيکې يې له زړه څخه پرې کړې او د مينې له خونده محروم دی. د اسلامي نړۍ شاعر محمد اقبال رښتيا ويلي چې:

شبی پيش خدا بگريستم زار زار
مسلمانان چرا خوارند و زارند؟
ندا آمد نمی‌دانی که اين قوم
دلی دارند و محبوبی ندارند

پر تا دې سلام وي سليمانه! ما ستا په کتاب کې دوه داسې نعمتونه وموندل چې د اسلام له نعمت وروسته يې د هېڅ نعمت سره د مقايسې وړ نه ګڼم دا دوه نعمتونه پاکه مينه او صحيح هدف يې دی. دا دوه نعمتونه څومره ستر او مبارک دي!

**نور بيا ...**

# د عطاء بن ابي رباح د علم شغلې

**راټولونه: ارسلا مفتون / ابرار بهير**



امام ابو حنيفه رحمه الله وايي: چې يو ځل د حج د مناسکو په پنځو احکامو کې تېروتم، چې د حجام(نايي) څخه مې زده کړل. هغه دا دي: کله چې مې د احرام څخه د وتلو په خاطر د سر خرېيل غوښتل نو نايي ته ولاړم پوښتنه مې ورځينې وکړه چې سر مې په څو کلوې!؟
هغه وويل: الله (ج) دې درته هدايت وکړي په عبادت کې بيه نه شته کېنه څه چې دې خوښه وي را يې کړه.
زه خجل او شرمنده شوم او د سر کلولو ته کېناستم. هغه راته اشاره وکړه چې مخ په قبله کېنم، په دې سره مې شرم او خجالت نور هم زيات شو.
بيا مې د خپل سر چپ طرف ور وړاندې کړ چې کل يې کړي. هغه راته وويل: ښی طرف دي راواړوه. بيا مې ښی طرف ور واړوه. هغه زما د سر په خرېيلو پيل وکړ او زه چپه خوله يم او هغه ته په حيرانتيا ګورم. هغه وويل: ولې چپ ناست يې تکبير وايه، تکبير ويل مې پيل کړل. کله چې د تلو په اراده پورته شوم. ويې ويل چېرته ځې؟ ما وويل: غواړم خپلې ډېرې او قافلې ته ولاړ شم. هغه وويل: دوه رکعته لمونځ وکړه بيا چې دي چېرته خوښه وي هلته ولاړ شه.ما دوه رکعته لمونځ وکړ. بيا مې د ځان سره وويل: د دې احکامو بيانول د دې نايي د وس کار نه دی دا به ضرور عالم وي. پوښتنه مې ورځينې وکړه. د حج کوم احکام دي چې ماته و ښوده دا دې له چا زده کړي دي؟
هغه وويل: ما عطاء بن ابی رباح ليدلی چې همداسې يې کول، ما له هغه څخه زده کړي او ډېر خلک مې هغه ته ور لېږلي، چې علم ورڅخه واخلي.

# د غربي استخباراتو له خوا نخبه مسلمانانو وژل کيدل

**ليکنه: قيام الدين خادم / کتاب: خيالی دنيا**

ځينې مشهور ساينس پوهان چې د غربي استخباراتو لخوا په مرموز ډول وژل شوي:
- سمير نجيب:
دا يو مصري ايټمي ساينسدان و، په امريکا کې يې ژوند درلود کله چې مصر ته د تللو فيصله وکړه لومړی د هغه ټول ساينسي تحقيقات او مسودات ورڅخه پټ کړی ؤ شول او بيا په ۱۹۶۷ کال کې په مرموز ډول ووژل شو.
- حسن رمال
دا يو لبناني مسلمانان ساينسدان وه. هغه په فزيک کې ۱۱۹ څخه زيات ساينسي ايجادات او تحقيقات کي چې په ۱۹۹۱ کې په مرموز ډول په فرانسه کې ووژل شو
- ډاکټر نبيل القليني
مصري اټومي ساينسدان وه د يورانيمو په تخريج او تصفيې کې يې بې شمېره تحقيقات کړي ووپه ۱۹۷۵ په مصر کې ژوندی ورک شو...
- حسن کامل الصباح
يو لبناني مسلمان ساينسدان او انجنير و. هغه د عربي نړۍ په ايډيسن مشهور وو هغه د اليکټريکل انجنيرۍ شعبي ۱۷۳ زيات ايجادات کړي ؤ، چې بالاخره د يوه سفر دوران کې په ۱۹۳۵م کال په امريکا کې په مرموز ډول ووژل شو.
- يحيي الشد
دا يو نه يوازې د مصري اټومي ساينسدان وه بلکې د مصر اټومي پروګرام له مؤسيسينو او سرخيلو څخه شمېرل کېده. هغه ته د عراق اټومي پروګرام بابا هم ويل کېده.. اټومي رياکټر کې هغه ۵۰ تحقيقاتي مقالې موجودې دي، هغه د يوه سفر په دوران کې په ۱۹۸۰ م کال په پاريس کې ووژل شو
- سعيد بدير
يو مصري ساينس دان و د ميزاييلو تيکنالوژي برخه کې د ماهرو ساينس دانانو څخه شمېرل کېده په ځانګړي ډول Rocket Engineering ډېر علمي تحقيقات يې کړي ؤ، ډېر وخت يې په جرمني کې د سټلايټو برخه کې دندې ترسره کړي بالاخره په ۱۹۸۹ په جرمني کې په مرموز ډول ووژل شو
- مصطفي مشرفه
دا يو مصری ساينس دان و د اټومي فزيک ماهرو او مشهورو ساينس دانانو څخه شمېرل کيده چې د عربي نړۍ په انشټاين هم مشهور وو په ۱۹۵۰ کې د موساد لخوا په زهرو ووژل شو
همدارنګه د عراق اشغال دوران کي په لسګونو عراقي ساينس دانان هم په مرموز ډول وژل شوي.
بلخوا په اسلامي نړۍ کې هغه څوک چې تيکنالوژي، ساينسي او عصري علومو حصول کې لوی لاس لري د مختلفوبهانو په اساس يې اهميت کموي، دغه علوم په نطفه کې وژني او مستقيم او يا غير مستقيم ډول د غربي نړي او اسراييلو اهداف پوره کوي.

# د يوه عابد ارزښتناکه کيسه

يو عابد وغوښتل له الله جل جلاله سره ملاقات وکړي نو په همدې موخه يې څلويښت ورځې ځان چله کړ. د ورځې به روژه و او د شپې به يې قيام کاوه او الله ته به په زارۍ و. د الله د مخلوق سره يې اړيکه پرې کړې وه. په ۳٦ مه شپه يې يو غږ واوريده چې سبا په ٦ بجو د اهنګرانو په بازار کې د فلانی اهنګر دوکان ته لاړ شه د الله جل جلاله زيارت به وکړې. عابد په ۵ بجو ياد بازار ته حاضر شو او د بازار په کوڅو کې د ياد دوکاندار په لټه کې ګرځيدو... وايي: يوه زړه ښځه مې وليده چې يو د مسو لوښی ورسره و او اهنګرانو ته يې ښودولو تر څو يې وپلوري... هر اهنګر ته به يې چې ښودولو نو د وزن کولو وروسته به اهنګر ورته ويل: په ۴ رياله او ۲۰ شاهۍ يې اخلم...



خو زړې ښځې به ورته ويل: نه کيږي چې په ۶ ريال يې واخلئ؟ اهنګر به ورته وويل: چې نه موري په دې قيمت مونږ ته ګټه نه کوي. زړې ښځې لوښی په سر کړ او په ټول بازار کې وګرځيده خو ټولو ترې په همدې قيمت غوښته. عابد وايي: بالاخره زړه ښځه هغه دوکان ته ورسېده چې زه هم بايد ورته تللی وای، اهنګر په خپل کار کې مشغول وو، زړې ښځې ورته وويل: دا لوښی مې د پلور لپاره راوړی دی، په ۶ رياله يې اخلې؟ اهنګر ورځخه وپوښتل چې په ۶ رياله يې ولې پلورې؟؟ زړې ښځې د خپل زړه غوټې خلاصې کړې او ورته يې وويل: په کور کې مې زوی ناروغ دی، ډاکټر ورته نسخه ليکلې چې قيمت يې ۶ رياله دی! اهنګر لوښی راواخيست او ويې ويل: دا خو روغ او ډير قيمتي لوښی دی ښه نه ده چې ويې پلوري، خو دا چې ته په دې تاکيد کوې چې پلورم يې نو زه يې درځخه په ۲۵ رياله اخلم!!! زړې ښځې ورته وويل: ايا په ما پورې مسخرې کوې؟ اهنګر ورته وويل کله هم نه!!! لوښی يې واخيسته او ښځې ته يې ۲۵ رياله ورکړل. زړه ښځه چې ډيره حيرانه وه له دوکان څخه په دعا کولو سره ووتله او په چټکۍ سره د خپل کور په لور روانه شوه. عابد وايي زه چې د دې پيښې شاهد وم او د ملاقات وخت مې هم له ياده وتلی وو، ټکان مې وخوړه او اهنګر ته مې وويل: فکر کوم بلد کسبي نه يې؟ د بازار ټولو اهنګرانو دا لوښی تر وزن کولو ورسته د ۴ رياله او ۲۰ شاهي څخه په لوړ قيمت وانخيسته. ولې تا په ۲۵ رياله واخيسته!؟ زاړه اهنګر ورته وويل: ما د لوښی قيمت نه دی ورکړی؛ بلکه ما پيسې ورکړې چې د زوی درمل پرې واخلي، پيسې مې ورکړې چې يوه هفته پرې د خپل زوی ساتنه وکړي، پيسې مې ورکړې چې ترڅو نور د کور سامان ونه پلوري، ما لوښی نه دی اخيستی.... له هغه خبرو څخه چې ما وکړې خجالت او شرمنده شوم او په فکرونو کې ډوب شوم. ناڅاپه په لوړ غږ راته وويل شو: چې په چله کيدو او عبادت کولو سره نه شي کولای زما ملاقات وکړې!!! د لويدلو خلکو لاس نيوی وکړه او پورته يې کړه، زه به پخپله ستا ملاقات ته راشم.

# واکمنو ته

**حامد افغان**

عرب کوچی د وخت ځواکمن اموي پاچا سليمان بن عبد الملك ته ورپورته شو، د نر غوندې يې څو سپيني خبرې ورته وکړې چې بل چا نه شوی ورته کولی! کوچي ورته ويل: د مومنانو اميره! څو خبرې درته کوم، که بدې درولګيدې؛ ويې زغمه، ځکه که زما خبرې دې ومنلې په دې کې دې ډيره ګټه ده.

سليمان ورته وويل: کوچيه وايه، څه ويل غواړې؟ کوچي ورته وويل: زه په داسې خبرو خوله خلاصوم چې ډېرې ژبې پر هغو خبرو ګونګې دي، خو دا خبرې د الله لپاره تا ته د وعظ په نيت کوم، ته زمونږ امام يې، پر مونږ حق لرې چې حقه، ګټوره او سپينه خبره درته وکړم.

د مومنانو اميره! پر تا داسې خلک راټاو شوي، چې ځانونو ته يې هم بده لاره غوره کړې ده! دوی د خپل دين په بدل کې ستا نه دنيا اخيستې ده! دوی الله خپه کوي او تا خوشالوي! دوی ستا باره کې له الله څخه نه ډاريږي، دوی دې اخرت خرابوي او دنيا درته ښايسته کوي! نو الله تعالی چې تا ته کوم امانت (د خلکو امارت او دولت) سپارلی؛ دوی ته دا امانت مه سپاره.

کوچي زياته کړه: دوی دې امانت ته د دې لپاره اوږې ورکړې، چې ضايع يې کړي، دوی له امت او ولس سره هيڅکله مخلص نه دي؛ خو د دوی د کړنو به الله ستا نه پوښتنه کوي! او دوی نه به ستا د کړنو پوښتنه نه کيږي، نو د خپل اخرت په خرابولو سره د دوی دنيا مه ورته جوړوه، ځکه قيامت کې به تر ټولو لوی تاواني هغه څوک وي چې د نورو د دنيا لپاره يې خپل اخرت خراب کړی وي.

سليمان بن عبد الملک ورته وويل: اې کوچيه! تا نصحيت وکړ، مونږ ته دې الله توفيق راکړي چې ستا خبرې عملي کړو. المجالسة وجواهر العلم، للدينوري ١٣٤.

دا څو سپيني خبرې يوه سهرايي کوچي د وخت پياوړي اموي واکمن سليمان بن عبد الملک ته کړې دي، چې ټولې د واکمن پر حاشيه، ورنږدې خلکو او مهمو مشاورينو راڅرخي، هر کشر، منځنی او لوی واکمن که دا خبره مني يا يې نه مني؛ خو هغه د هغو خلکو په مکمل کنترول کې وي چې سهار او ماښام پرې راټاو وي.

که لږ نور جرأت او وضاحت وکړو، بايد ووايم لکه يو بندي چې پوليس په ولچکونو او ډنډو کنترولوي؛ يو واکمن د هغه ورنږدې خلک په ژبه او خبرو سره همداسې کنترولوي، نو که دا خلک ښه، صالح، ديندار او له وطن سره خواخوږی وي؛ واکمن به پر سمه، نظام به مخ پر قوت او هيواد به مخ پر وده روان وي او که داسې نه وي، الله دې نه کړي درنې ستونزې به رامنځته کيږي او واکمن به د الله او ملت په وړاندې مسؤل او پوښتل کيږي.

# افغان اعلانات

**اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد**

بدينوسيله به تأسی از فقره (٢) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد ( تهيه و تدارک سه قلم تجهيزات برقی مورد ضرورت سرپل برشنا ) تحت شماره داوطلبی (دافغانستا ن برشنا شرکت /١٤٤٥/ داوطلبی باز ملی مجدد / اجناس -٠١٥ ) با شرکت محترم تجارتی نورالله ملاخيل لميتد جواز نمبر ٦٩٣٨٩ با داشتن محل اصلی { ماركيت برنج فروشی - پلخمری بغلان} به مجموعی قيمت به مبلغ ٣,١٩٥,٠٠٠ سه ميليون و يک صد و نود و پنج هزار افغانی اعطا نمايد.

اشخاص حقيقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمينه داشته باشند، می توانند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اين اعلان الی هفت روز تقويمی طور کتبی توأم با دلايل آن به رياست تدارکات دافغانستان برشنا شرکت - دهمزنگ - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمايند.

اين اطلاعيه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

**اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد**

بدينوسيله به تأسی از فقره (٢) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده می شود، د افغانستان برشنا شرکت در نظر دارد تا قرارداد پروژه « خريداری و نصب دستگاه سولری برای دسپچنگ مرکزی» تحت شماره داوطلبی» ٠٩٧-اجناس/داوطلبی باز ملی/١٤٤٥/ برشنا شرکت « با شرکت خدمات لوژستيکی کامران فواد دارنده جواز نمبر ٧٥٦٤٣ و با داشتن محل اصلی تجارتی} ناحيه ١٥ شهرک خراسان، مرکز کابل، کابل} را مبلغ ٣,٨١٩,٢٧٣ سه ميليون هشتصد و نوزده هزار و دو صد هفتاد و سه افغانی اعطا نمايد.

اشخاص حقيقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمينه داشته باشند، می توانند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اين اعلان الی هفت روز تقويمی طور کتبی توأم با دلايل آن به رياست تدارکات د افغانستان برشنا شرکت - دهمزنگ - کابل افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارائه نمايند.

اين اطلاعيه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

***

**اطلاعيه مفقودی**

يک جلد کتابچه صفايی خانه ، خانه واقع ناحيه ٦ شهرک اميد سبز به اسم معصومه بنت محمد عارف مفقود گرديده از اعتبار ساقط ميباشد.١١٥

***

**اطلاعيه دعوت به داوطلبی**

رياست مطبعه معارف در نظر دارد تا تعمير خويش را ترميم اساسی نمايد. شرکت ها و موسسات که در رابطه به ترميم مذکور خواهش قرار داد را داشته باشند درخواست های خود را الی مدت ٢١ يوم بعد از نشر اعلان به مديريت عمومی خدمات رياست مطبعه معارف واقع شاه دوشمشيره (ع) سپرده شرطنامه را در مقابل ٥٠٠ افغانی بدون باز پرداخت بدست آورده و تضمين اخذ ميگردد.١١٢

***

**اطلاعيه فروش امتياز دواخانه**

محترم همايون عظيمی فرزند محمد عظيم ولديت محمد هاشم دارنده تذکره نمبر ( ۴۹۶۴۰- ١٠٠١- ١٣٩٩) مسکونه اصلی ولايت کابل مالک امتياز دواخانه همايون عظيمی واقع ناحيه چهارم ولايت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادويه افغانستان عارض و خواهان فروش امتياز دواخانه خويش بالای محترم عبدالربی خيری فرزند عبدالولی خيری ولديت عبدالوکيل دارنده تذکره شماره ( ٥٠١٣٢- ١٠٠٠- ١٣٩٨ ) مسکونه اصلی ولايت کابل گرديده است .

اشخاص موسسات ودواير دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاريخ نشر اعلان الی مدت ١٠ روز به آدرس اداره ملی غذا وادويه افغانستان واقع ده افغانان تعمير قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمايند. ١١۴

***

**اطلاعيه به کرايه دهی**

موسسه باغهای تاريخی کابل در باغ بابر تسهيلات ذيل :

١-دو پارکينگ باغ بابر.
٢-دوازده باب دکاکين فروشات صنايع دستی در کاروانسرا.
٣-غرفه آب ميوه فروشی.
۴-غرفه آيسکريم.
۵-فعاليت کمره عکاسی.
٦- دو باب غرفه شورنخود جنوبی و شمالی.
٧-غرفه ميوه تازه.
٨- دو باب غرفه نوشابه فروشی جنوبی و شمالی.
٩-رستورانت چايخانه گلخانه.
١٠-فعاليت به کرايه دادن فرش.
١١-غرفه برگر.
١٢-غرفه فروشات نوشابه فروشی در تيمور شاهی.

را از طريق اعلان داوطلبی به کرايه ماهوار می دهد. کسانيکه خواهش قرار داد آنرا داشته باشند از نشر اعلان الی مدت يک هفته درخواست های تحريری خويش را يکجا با تذکره و جواز صنفی که تاريخ اعتبار آن سپری نشده باشد به مديريت اداری باغ بابر تسليم نموده شرطنامه را بدست آورند.١١٠

***

**اطلاعيه مفقودی**

يک قطعه جواز دارای نمبر ١١٩ مربوط موسسه خدماتی انجينری باز سازی برای افغانستان مفقود گرديده از اعتبار ساقط ميباشد.١٠٠

***

**اطلاعيه فروش امتياز دواخانه**

محترم دل آقا هوفيانی فرزند تيمور شاه هوفيانی ولديت ديوانه خان هوفيانی دارنده تذکره نمبر (٠٣٠٢١۴٠٠-٢٣۵٣٠) مسکونه اصلی ولايت پروان مالک امتياز دواخانه صادق واقع مرکز ولايت پروان طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادويه افغانستان عارض و خواهان فروش امتياز دواخانه خويش بالای محترم فريدون عزيزی فرزند بسم الله عزيزی ولديت عبدالعلی دارنده تذکره شماره (٣٧۵٠٦-٠۵٠٢-١۴٠٠ ) مسکونه اصلی ولايت پروان گرديده است .

اشخاص موسسات ودواير دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاريخ نشر اعلان الی مدت ١٠ روز به آدرس اداره ملی غذا وادويه افغانستان واقع ده افغانان تعمير قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمايند. ١١٩

# د میدان وردګو چک کې د خپلسرو تصرفاتو مخنیوی وشو

عدلیې وزارت وايي چې د ځمکو د غصب د مخنیوي تخنیکـي پـلاوی د میدان وردګو چک ولسـوالۍ ته ولاړ او د یادې ولسوالۍ له ولسـوال، امنیه قوماندان او نـورو مسـوولینو سره کتنـه او خـبرې وکـړې. تخنیکـي هیئـت د دې سـفر پـه ترځ کـې د ۹۳۵ کادسـتري قطعـې، لنګـر او کلاګـي سـاحو کـې د نویـو تصرفاتـو مخـه ونیولـه او ویجـاړ یې کړل او همدارنګـه متصرفـین یـې مشـخص کـړل. همداراز ولسـوال او نورو مسؤولینو ته یاده کادستري ټوټه چې څه باندې ۴ زره جریبه ده مشـخصه شوه او له هغوی څخه یې وغوښـتل چې پـه راتلونکې کې د نویو تصرفاتو پـه صورت کې متصرفین یـې تخنیکي هیئت ته معرفي کړي.



## اسلامي امارت د ملي ګټو په رڼا کې له ټولو قدرتونو...

نـاروې لـه اروپایـي ټولنـې او ملګـرو ملتونـو سره پـه ګـډه کار کـوي چـې د اقلیمـي بدلـون پـه برخـه کـې لـه افغانانـو سره مرسـتې وشي. مولـوي عبدالکبیر، د ناروې سـفیر او ورسره پلاوي ته د ښـه راغلاسـت تر څنګ وویل چې د افغانستان اوسـنی امنیـت د پخوا پـه پرتله چې ناټـو او امریکا هـم حضور درلود ښـه یاد کړ او په وینـا یې چې کله کلـه د ځینـو امنیتي پېښـو پړه پـر افغانسـتان اچول کیـږي چې افغـان حکومت پکې هیڅ تـړاو نه لري. مولـوي عبدالکبیر د ګاونډیو په ګډون له ګڼ شـمېر هېوادونـو سره د اسـلامي امارت د اوسـنیو اړیکو د پراختیا یادونه وکړه او ویې ویل: اسلامي امارت د ملي ګټـو په رڼا کې د متوازن سیاسـت په لرلو سره له ټولو قدرتونو سره مثبت تعامل غواړي. سـیاسي مرسـتیال زیاتـه کړه، دا مهـال زرګونه افغان مېرمنـې په دولتي ادارو او خصوصي سـکتور کې په کار بوختې دي او همدارنګـه په لـوړه او ټیټه کچـه د خلکو غږ اورېدل کیـږي. مولوي عبدالکبیر د چاپېریال سـاتنې په برخه کې د ناروې له هڅو په مننې وویل، افغانسـتان د اوبو دمدیریـت او ځنګلونو د رغونې پـه برخو کې د نورو همکارۍ ته اړتیا لري.

## شعار نهال شانی زیرنام (میراث سبز)...

در بخش های مختلف پوهنتون پل تخنیک غرس شود . مولوی عبـد الوکیل متوکل رییس سرسـبزی شـاروالی کابل ازاستادان و محصلان سایر نهاد های تحصیلی خواست که در توسعه و گسترش فضا های سبز شهری سهم بگیرند

## کډوالو وزارت له دوو موسسو سره...

مرسـتو د همغږۍ موسسـه د کابل، پروان، کاپیسـا، پنجشـیر او لوګـر ولایتونو پـه ۱۵ زره ۲۶۸ کورنیو بانـدې د نغدي مرسـتو د وېش او څـو اړخیزه وېش د بهیـر د مدیریت په لړ کې په ټولیـزه توګه ۲ میلیونه ۱۶۴ زره ۴۷۵ ډالـره وېـشي او پـه میـدان وردګو، پکتیـا، پکتیـکا، خوسـت او غزني ولایتونـو کې یو زرو ۹۰۰ تنـو سره پـه مرسـته کې به پورتنۍ پیسـې ولګوي. دغـه راز د جاپان بېړنۍ موسسـه په ننګرهار ولایت کې پر یـو زرو ۵۴۲ کورنیو د ۴۳۵ زره ۸۶۶ ډالـرو په ارزښـت د ۹ ډوله خوراکـي توکو کڅوړې وېشي.

## فراغت بیش از ۵۰۰ زندانی از برنامه‌های...

مسـوولان زندان‌های ولایات هرات و میدان‌وردک برای این تعداد از زندانیان مراسم فراغت برگزار کرده‌اند.
سخنرانان در این مراسم، آموختن علوم دینی و عصری را یک ضرورت دانسته‌اند.
مقام‌های ریاسـت‌های معارف ولایات هرات و میدان‌وردک وعده برنامه‌های بیشـتر و سـودمندتر آموزشی برای زندانیان را داده‌اند.
این در حالی اسـت که پـس از حاکمیت امارت اسـلامی برنامه‌های تاثیرگذار آموزشـی جهت آراسته شدن زندانیان با زیور علم در زندان‌های کشور، عملی شده است.

## سرازیر شدن سیلاب یک پُل...

وصـل مـی سـازد،تخریب شـده اسـت. دفتر مطبوعاتی وزارت فواید عامه بانشر این خبر نگاشته اسـت: در اثر این حادثه ۵۰ درصد پل تخریب شده و باعث قطع راه های مواصلاتی این ولسوالی ها شده است. درهمیـن حال رهبـری وزارت فوایدعامـه به رئیس فوایدعامه آن ولایت و تیم های تخنیکی شـان هدایت داده است که با کم شدن آب بخاطر حل مشکلات مردم یک مسیر فرعی ایجاد نمایند.

## د ښاري ښکلا په موخه...

سـیمو او عامـه تاسیسـاتو پـه سـاتنه کـې لـه کابـل ښـاروالۍ سـره مرسـته وکـړي. اوس مهال د(۶) کیلو متره په اوږدوالي د پخوانیو رنګ شـویو کتارو سربېره، د دې سـړک دواړو خواوو ته د (۲) کیلو متره په اوږدوالي د کتارو د نصـب او رنګولو چارې روانې دي چې تر دوې وروسـته به یې د چمن کرلو او ګلانو کېښولو په اړه به هم اقدام وشي.

## د ننګرهار کې ۷۲ زره څاروي...

مولـوي عبدالسـتار محمد د باخترآژانـس خبریال ته ویلي، چې د یاد ریاسـت په هڅو د افغانستان لپاره د هالنډي کمېټې له لوري د ننګرهار په حصارک، شیرزاد، خوږیانیو، سره رود، پیچیراګام، هسـکه مینه، کوټ، اچین، نازیانو، دوربابا، غني خېلو، رودات او دره نور ولسـوالیو کې پر ۷۲ زره څارویو د چنجیو ضد درمل او انترکس د واکسـینونو د پلي کولو چارې پیل شوې دي.
نوموړې د یادو درملو د تطبیق موخه په لویو او وړو شـخوند وهونکو څارویو کـې د داخلي پرازیتونـو، چینجیو له منځه وړل بللی دی.

## کمک ۱۶.۴ میلیون دالری...

که کمک آلمان در بخش توانمندسـازی جوامع آسیب‌پذیر و تغذیه کودکان دانش‌آمور در افغانستان هزینه خواهد شد.
ایـن نهاد جهانـی فعال در بخش تغذیه از کمـک آلمان برای مردم افغانستان قدردانی کرده است.
کمک‌های بشردوسـتانه جامعه جهانی همـه‌روزه به افغان‌ها ادامه دارد.
دو روز پیش روسـیه نیز یـک میلیون دالـر امریکایی به مردم افغانستان، کمک کرد.

## تاکید بر ایجاد زمینه بهترکار به معدنکاران...

پروسـس محصول زمـرد، برق، آب، سرک موتـررو و نیز کاهـش قیمت مـواد مخصوص کـه عملاً ازآن بـه منظور اسـتخراج معادن استفاده می‌شود، خوانده شده است. رییـس معادن وپترولیم پنجشـیرمی گوید که این طرح های خدماتی به معدن کاران زمرد، نهایی شـده است و درجریان همین سال عملی خواهد شد.

## احداث جاده‌ی خاکی میان افغانستان...

شـیخ محمد قاسـم خالـد، والـی نیمـروز در دیدار با شـماری از تاجـران حـوزه غرب کشـور خواسـتار سـاخت جـاده خاکی جدید شده است.
در خبرنامه آمده که این جاده به حمایت مالی تاجران افغان، سـاخته می‌شود.
آقای خالد سـاخت جاده خاکی جدیـد را در کاهش ازدحام در پل ابریشم و ایجاد سهولت به تاجران، موثر دانسته است.
هزینه سـاخت این جاده ۲۸ میلیون افغانی گفته شده است. نیمروز از ولایت‌های مرزی در غرب کشـور است که با ایران هم‌مرز است.
این ولایت روزانه میزبان کاروان‌های تجارتی میان افغانستان و ایران است.

## تېرکال د غوري سمنټو د کارخونې...

افغانستان د اړتیا وړ شپږ سـلنه او د بغلان، کندز او تخار ولایتونو د اړتیا وړ ۷۰ سـلنه سیمنټ تولیدوي. مسـوولین وايي، چې د ۱۴۰۱ کال عوایـدو ته په کتو یې په ۱۴۰۲ کال کې ۳۰ سـلنه عواید زیات شوي دي.
د بغلان د غوري سـیمنټو فابریکې رییس انجنیر شفیع الله واحدي وایـي، چې په ۱۴۰۲ کال کې یې ۱۵۰ زره ټنه سـیمنټ تولید کړی، چې ۹۰۰ میلیونه عواید یې ترې تر لاسـه او د حکومت خزانې ته یې سپارلي دي.
ورته مهال د غوري سمنټو فابریکې مالي او اداري مرستیال عبدالوکیل قیومـي وایي، چې د غـوري سـیمنټو تولید کېدونکي سـیمنټ له ځانګـړي کیفیت څخـه برخمن دی او پـه ۱۴۰۲ کال کې یې د پېر لپاره غوښتنې هم ډېرې شوې وې.
د دې فابریکـې کارکوونکی حکیم وایي، چې په دې وروسـتیو کې یې د غوري سـیمنټو فابریکو ته ځانګړې پاملرنه شـوې، چې ورسره د تولید کچه لوړه شـوې او د فابریکـو بیارغونې ته لومړیتوب ورکول شوی دی.
د دې فابریکـې فني کارکوونکي وایي، چـې که د تولید کچه یې نوره هم په دې فابریکو کې لوړه شـي هم به لسګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شـي او هم به د سیمنټو له اړخه افغانسـتان د ځان بسیاینې په لور ګامونه واخلي.

## ناروی متعهد به ارایه کمک‌های بشردوستانه...

در این دیدار سلجی ماری اندرسن، سـکرتر سیاسی دفتر ناروی نیز حضور داشته است.
در همیـن حـال، سرپرسـت وزارت اقتصـاد، از تامیـن امنیت سرتاسـری که زمینه تطبیق برنامه‌های سهولت‌آفرین برای مردم را فراهم کرده، سخن گفته است.
آقـای حنیـف تمرکـز روی پروژه‌هـای اشـتغال‌زا را از برنامه‌هـای تاثیرگـذار در کاهـش میـزان بـی‌کاری بیـان کرده است.
این مقام امارت اسـلامی به انکشـاف متـوازن، ارایه خدمات به ساحات دور وست و کم‌تر توسـعه یافته تاکید کرده است.
نـاروی از کشـورهای کمـک کننـده در بخـش فعالیت‌هـای بشردوستانه برای افغانستان است.

## وزارت صنعت و تجارت وضعیت تاجران هرات...

هـای شـان را با معیـن وزارت صنعـت و تجارت شـریک کردند. بعـد مولوی قـدرت الله جمـال، در سـخنانش گفت کـه یکی از اهداف سـفر وی و هیئت همراهش به ولایت‌های کشـور، شناسایی مشکلات، شنیدن پیشنهاد ها و خواست های بخش خصوصی است. وی از توجه رهبری وزارت صنعت و تجارت در زمینه رفع مشـکلات و رسیدگی به پیشنهاد ها و خواست های تاجران هرات، اطمینان داد . همچنان معین وزارت صنعت و تجارت، از ریاست صنعت و تجارت هرات و آسیب دیدگان زمین لرزه اخیر در آن نیز ولایت دیدن کرد.

## په ټول هېواد...

ورتـه مهال دې لیدنـه کې مولوي عتیـق الله عزیزي د یونسـکو له فرهنګي مشـر څخه غوښـتي، چې د هغه تاریخي ابداتـو او لرغونو سیمو د استحکام او سـاتنې برخه کې مرسته وکړي، چې د ویجاړېدو له ګواښ سره مخ دي. ښـاغلي عزیزي زیاته کړې؛ د اسلامي امارت په واکمنېدو سـره په ټول هېواد کې د تاریخي اثارو د قاچاق مخه نیول شوې ده.

## پروان کې نږدې ۳۰۰ پروژې...

بیارغونـې او پراختیا وزیـر ملامحمد یونس اخنـدزاده ویلي، چې دغـه پروژې یې د خلکـو لومړیتوبونو، اړتیا او د هغوی له خوښـې سـره سـمې پلي کړې دي. نوموړي زیاته کړې، چې پـه راتلونکي کې به هم د ولسـونو له اړتیا او لومړیتوبونو سـره سمې پروژې پلي کړي. پـه دغو پروژو کې د کانکرېټي سـړکونو جـوړول، د کلیوالي سړکونو جغل اچول، د څښـاک پاکو اوبو څاه ګانو کېندل، د کرنیزو اوبـو کانالونه، پلونـو او محافظـوي دېوالونو جوړول شـامل دي. یاد وزارت ویلي، چې د دغو پروژو په بشـپړېدو سـره په یادو برخو کې د نوموړیو ولسـوالیو د اوسـېدونکو شته سـتونزې هوارې شوې دي.

## د میدان وردګو ترافیکو مدیریت...

۴۷ میلیونه افغانۍ د دولت خزانې ته ټولې کړې دي. خبرپاڼه کې ویل شوي چې په تېر یوه کال کې ۵۰۵ ټرافیکي پېښې رامنځته شوي چې د یادو ټرافیکي پېښـې له امله ۵۰ کسان وژل شوي او ۴۶۴ نور بیا ټپیان شوي دي.

## ۶۵۰ جریبه ځمکه...

یاد وزارت ویلي، له نشـه یي توکو سره د مبارزې پولیسو د اړول شویو کوکنـارو له ډلې ۶۲۶ جریبه په ارزګان، ۲۳ جریبه ننګرهار، ۲۰ جریبه په بدخشـان او یوشمېر نور په هرات کې له منځه وړي دي. دا په داسې حال کې ده، چې له نشـه یي توکو سره د مبارزې پولیسو شپه او ورځ نه ستړي کېدونکو هڅو سره په هېواد کې د نشه یي توکو کښت، قاچاق او پلور کچه نږدې صفر ته رسېدلې ده.

## د نړیوالو فشارونو پر وړاندې...

واضحه ده چې خلک به هـم له حکومت نه څه هیلې لري او هر کله چې هغوی په حکومت کې د خپلو ارمانونو پوره کېدل ووینـې، حتماً به یې ترڅنګ درېږي. د مثال په ډول عوام ددې ارمانجن دي چې مشران یې عادل او رښـتیني اشخاص وي- مطلب داسې نظام ولري چې د هر مظلوم او کمزوري غږ پکې اورېدل کیږي، داسـې نظام وي چې مسئولین یې پرهیزګار، له رشـوت نه پاک او د بیت المال په هکلـه انتهایي ډېر محتاط وي- همدارنګـه د حکومت زیاتره لویان د یوه قوم او یا کومې خاصې طبقې اړوند نه وي بلکې پرته له کومې خاصې قبیلې، طبقې، ذوق او ملګرتیا هر با احساسه، صالح او وړ شخص ته پکـې ځای ورکول کیږي او په دې توګه د ګرد ملت له شریک بیت المال نه ښـه په عدالت سره د ملت هر وګړي ته مناسب خدمات ورسیږي او داسې نه وي چې زیاتره برخه یې د لویانو چاړواکو په هوسـاینه او پالنه کې مـصرف شي. لنډه دا چې هـر کله د رعیت زیاتـره خلک له دې پلـوه ډاډه وي نو هیڅ شک نشـته چې بیا به خلک هم په هر ډول حالاتو کې د خپل حکومت ترڅنګ ولاړ او په ګډه به له هر ډول بهرنیو فشارونو سره په مېړانه مقابله کوي- همدا یوه ډېره تجربه شـوې نسخه ده او پرته له دې هیڅکله د کوم نظام ټینګښـت او دوام نه شي تضمین کېدی.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰٤٤۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Thursday 28 March 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 416

مهاجر فراهی:

# د رسنیو د سرغړونې پوښتنه یوازې د اطلاعاتو او کلتور وزارت حق دی

د اطلاعاتو او کلتور وزارت خبر ورکړی، چې په ټول هېواد کې خبریالانو ته د خوندیتوب کارتونو د وېش لړۍ پیل شوې او دا لړۍ لا هم په ګړندۍ توګه روانه ده.

د دې وزارت د نشراتو مرستیال مولوي حیات الله مهاجر فراهي ویلي، د دغو کارتونو د وېش له پیله زیات شمېر خبریالانو دغه کارتونه ترلاسه کړي دي.

ښاغلي فراهي خبریالانو ته د دغو کارتونو د ورکړې موخه د هویت تثبیت او د هغوی پر وړاندې د امنیتي ستونزو مخنیوی یاد کړی دی. د نوموړي په خبره، د رسنیزو سرغړونو په صورت یوازې د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پوښتنې حق لري او نور څوک یې باید په چارو کې مستقیمه لاسوهنه ونه کړي.




ښاغلي فراهي له رسنیو غوښتي، چې داسې څه دې نه خپروي، چې د خلکو ذهنونو ته زیان ورسوي. دا په داسې حال کې ده، چې په هېواد کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د خبریالانو خوندیتوب ته ځانګړې پاملرنه شوې او د اسلامي امارت مسؤلینو په هر حالت کې د خبریالانو په خوندیتوب ټینګار کړی دی.

## رویدادهای خارجی

### افغانستان کې د بریتانوي سرتېرو د جرمونو پټولو قضیه کې مو زنداني کوو



بریتانوي چارواکو د دغه هېواد د سرتېرو چارو وزیر جاني مرسر ته لس ورځې وخت ورکړی، ترڅو ټولې هغه دوسیې رنې کړي، کومو کې چې بریتانوي عسکرو په افغانستان کې ملکي وژنې او نور جنایتونه ترسره کړي وي.

تېره میاشت، یاد وزیر د ۲۰۱۰-۲۰۱۳ کلونو په بر کې د هغو جنایتونو په سپړنه کې بې پروايي کړې وه چې افغانستان کې یې خپلسرې وژنې او عملیات ترسره کړي وو. تر دې وړاندې د استرالیا سترې محکمې هم د خپلو سرتېرو د جنګي جرمونو د پلټنې خبر ورکړی وو. د ویلو ده چې په تېر شل کلن اشغال کې د امریکا په مشرۍ د ناټو ځواکونو پر بې دربېغه جنګي جرمونو ککړ دي، خو تراوسه هېڅ هیواد په ښکاره توګه خپل سرتیري نه دي محاکمه کړي.

### غاصبو اسراییلو د فلسطینیانو نږدې زر هکتاره نوره ځمکه لاندې کړه

اسراییلي رسنیو تازه ویلي چې د فلسطین لوېدیځه غاړه کې یې له دغه هیواد څخه ۸۰۰ هکتاره ځمکه لاندې کړې ده. غاصب رژیم شاوخوا یوه میاشت وړاندې ویلي و چې د فلسطین په لوېدیځ کې به د زرګونو استوګنو کورونو یو ستر ښارګوټی جوړ کړي. ویل کیږي چې صهیونستان دغلته په ناقونې توګه یهودو ته د سرپناوو جوړولو ویلي دي. یاد غاصب رژیم دعوه کوي چې دا ځمکې په دوی پورې تړلې دي. دا لومړی ځل نه دی چې صهیونستان د فلسطینی ځمکې سکولي، بلکې تر دې وړاندې یې هم د دغه هیواد ګڼې ځمکې په زور لاندې کړې. د صهیونستانو دغه کړنه ګڼو هیوادونو غندلې خو په ډګر کې له دې چارې د غاصبینو لاسونه نه لنډوي.

### ترک میز مذاکرات توسط اسراییل برای آتش‌بس در غزه

رسانه‌های بین‌المللی گزارش داده‌اند که گفت‌وگوها میان فلسطین و اسراییل مبنی بر آتش‌بس درغزه به بن‌بست کشیده شده و هیات مذاکره‌کنندگان اسراییلی قطر را ترک کرده‌اند.

خبرگزاری رویترز به نقل از یک مقام اسراییلی گزارش داده که مذکرات آتش‌بس در غزه به بن‌بست رسیده است.

این در حالی است که مذاکرات میان اسراییل و حماس با میانجیگری مصر و قطر مبنی بر آتش‌بس ۶ هفته‌ی در غزه و مبادله ۸۰۰ زندانی امنیتی فلسطینی با ۴۰ گروگان حماس در جریان است این مذاکرات در حالی به بن‌بست کشیده شده که اسراییل از آماده‌گی حمله به رفح، شهری در غزه همسایه‌گی مصر که به عنوان اردوگان آوارگان فلسطینی عمل می کند خبر داده است.

پیش از این نیز نخست وزیر اسراییل صدور قطعنامه تازه شورای امنیت سازمان ملل متحد مبنی بر آتش‌بس فوری در غزه را عوامل شکست مذاکرات خوانده بود.

این در حالی است که سازمان ملل و نهادهای حقوق بشری از افزایش بحران بشری و گرسنگی میان آوارگان فلسطینی در رفح هشدار داده‌اند.

### اسماعیل هنیه: اسراییلو غزه کې هېڅ موخه نه ده ترلاسه کړې

د حماس د سیاسي دفتر مشر اسماعیل هنیه تهران ته په خپل سفر کې د دغه هېواد د انقلاب ګوند مذهبي مشر او رهبر علي خامنه يي سره کتلي دي.

نوموړي ویلي چې په تېرو شپږو میاشتو کې صهیونست رژیم په غزه کې هېڅ موخې ته نه دي رسېدلي.

بل پلو، د ایران مذهبي مشر علي خامنه يي ویلي چې دوی به د فلسطین ننګه کوي او له ملاتړ څخه به یې لاس نه اخلي.

باید وویل شي، چې اشغال شوي فلسطین کې د اسرائیلو او حماس د جګړې له پیل سره سم دا دویم ځل دی، چې د حماس جهادي غورځنګ د سیاسي دفتر مشر اسماعیل هنیه تهران ته سفر کوي او د دغه هېواد له لوړ پوړو چارواکو سره لیدنې کوي.

### فراغت بیش از ۵۰۰ زندانی از برنامه‌های دوره قرائت و سواد آموزی

وزارت معارف کشور می‌گوید، بیش از ۵۰۰ زندانی در زندان‌های ولایات هرات و میدان‌وردک از دوره‌های آموزشی قرائت و سواد آموزی فارغ شدند.

این وزارت دیروز با نشر خبرنامه‌ای از فراغت این تعداد از زندانیان از دوره‌های یادشده خبر داده است.

بربنیاد خبرنامه، ۴۷۵ زندانی در زندان ولایت هرات و ۳۰ زندانی دیگر در ولایت میدان‌وردک با زیور علم آراسته شده‌اند. ص۷



### کډوالو وزارت له دوو موسسو سره د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک کړل



د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو وزارت او د بشري مرستو د همغږۍ موسسې او د جاپان بېړنۍ موسسې ترمنځ د ۲ میلیونه ۶۰۰ زره ۳۴۱ امریکایي ډالرو په ارزښت د همکارۍ درې هوکړه لیکونه لاسلیک شول. د دې هوکړه لیکونو له مخې، د بشري... ۷مخ

### د ښاري ښکلا په موخه د کابل ښاروالۍ هڅې

د ښاري ښکلا رامنځته کولو په موخه، د کابل ښاروالۍ له لورې د اتمې ناحیې د سوداګرو په مرسته، د کارته نو له دویم سړک څخه تر څلورم سړک پورې د کتارو د نصب او رنګولو چارې رواني دي.

د اتمې ناحیې رئیس مفتي روح الله عثماني په دې اړه وویل: له دې وړاندې له دغو زرغونو سیمو څخه یو شمېر ښاریانو شخصي ګټه اخیسته او په دې ځای کې یې ناقانونه تاسیسات جوړ کړي وو چې، تر پاکولو وروسته یې د ښکلا په اړه اقدام وشو.

نوموړي له خصوصي سکټور او هغه هټیوالو څخه چې، د دغو کتارو په نصب او رنګولو کې یې برخه اخیستې مننه وکړه او هیله یې څرګنده کړه ترڅو ټول ښاریان د زرغونو... ۷مخ



### سرازیر شدن سیلاب، یک پُل بزرگ را در فاریاب تخریب کرد

از اثر بارش باران های شدید و سرازیر شدن سیلاب ها پُل (خشت پُل) که ولسوالی های بلچراغ، گرزیوان، پشتونکوت و کوهستان ولایت فاریاب و ولسوالی درزاب ولایت جوزجان را باهم... ص۷



### ننګرهار کې ۷۲ زره څاروي واکسینېږي

د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسوولین وايي، چې د یاد ولایت په ۱۳ ولسوالیو کې پر۷۲ زره څارویو د چنجیو ضد درمل او واکسینونو د پلي کولو چارې پیل شوې دي.

د ننګرهار د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ رییس ... ۷مخ



### شعار نهال شانی زیرنام (میراث سبز) در پوهنتون پولی تخنیک کابل راه اندازی شد

شعار نهال شانی زیر (نام میراث سبز) در پوهنتون پولی تخنیک کابل با حضوررهبری و دانش آموزان آن پوهنتون راه اندازی شد.

به گزارش آژانس باختر: قرار است در این کار زار، صد ها اصله نهال به همکاری ریاست سرسبزی شاروالی کابل، ... ۷مخ



### کمک ۱۶.۴ میلیون دالری جرمنی به افغانستان

برنامه جهانی غذا (WFP) می‌گوید، آلمان ۱۵ میلیون یورو معادل ۱۶.۴ میلیون دالر به افغانستان کمک کرده است.

این نهاد سه‌شنبه‌شب در خبرنامه‌ای از این بسته کمکی آلمان خبر داده است.

برنامه جهانی غذا افزوده... ص۷

**توجه !**

**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**